# د ډیوې په غېږ کې



صفیه حلیم

# د ډیوې په غېږ کې

صفیه حلیم

د چاپ کال: ۱۳۸۲ل-۲۰۰۳ م

د پښتۍ انځور: جمال شاه

چاپ: صحاف نشراتي موسسه

# فهرست

د سرور شپه

بندیوان

تم ځای

دوزخي ارواح

د ډیوې په غېږ کې

شاعره

وریژې او غنم

چمن راز

سلاسل

مشکېنه

د نواب زوی

بېکاره بنځه

ډش انتېن

د چرګ بانګ

عبادت

رخه

درمل

د خضر لټون

لومه

الماس

بن

# د سرور شپه

هغه نن په نڅا نه مړېده. يو پيربه يې تېر کړو خو چې نوې سندره به پېل شوه او ښځې به راپاڅيدې نو دې به بيا ميدان ته ورټوپ کړو. د هغې د زرغون کميس د پاسه لګيدلو شيشو په هر يو څرخ داسې ځلا وکړه چې تول کوټه به پرې رڼا شوه. ګلابي لوپټه يې د کميس د پاسه په ملا تړلې وه، تاو راتاو وېښتو يې په اوږو تالې وهلې، هره ادا يې زړه راښکونکې وه. لاسونه چې به يې اسمان ته اوچت کړل نو ملا به يې هم ورسره کړه کړه او سترګې به يې داسې خماري شوې چې تا به ويل د شرابو پوره بوتل يې اړولې و.

خو دا مستي له ډېرې مودې وروسته د هغې په نصيب شوې وه او له يوې يوې شيبې يې خوند اخيستو. نن شپه يوه عجيبه سرور د هغې په رګونو کې د وينې په ځای منډې وهلې. ايله مياشت مخکې د هغې حالت بل ډول و، هيچا سره به يې خبرې نه کولې. توله ورځ به غلې ناسته وه. مور او خويندو سره يې غم و چې دا چرته ليونۍ نشي. د دوډۍ لپاره به هم خويندو په زوره پاڅوله. هغه وخت به ددې په ذهن کې تولې غمژنې سندرې غږيدې...د بې وطنۍ، د پرديسۍ سندرې...

خو نن له هغې تول غم هېر و. نن له هغې دا هم هېر وو چې په خپل وطن کې به توله ورځ په کور کې ناسته وه، د تعليم دروازې پرې تړلې وې. روزګار...د سرو لپاره نه و، نو هغې به څه کول؟ مور يا خور به ورته توکر او

وريښم ونيول چې ګلونه پرې جوړ کړي خو دې به هر څه په دېوال وويشتل. ډېر وخت يې همداسې تېر کړو...د هغې لپاره دغه کلونه لکه پېړۍ وې. د هغې سندرې او موسيقي ډېره خوښه وه خو په ريډيو کې به هيڅ نه وو. بيټرۍ ګرانې وې، د شپې به يواځې خبرونه اوريدل کيده. کله نا کله به د هغې زړه تنګ شو نو وړوکې تمبل به يې راواخيستو او پخپله سندرې پيل کړې. دغه وخت ګاونډيانو به وربلندې غږ وکړو چې، " ځان له کارمه ګورئ."

او بيا لکه چې خدای پاک د دوی زارۍ واوريدې. د وطن نه د وتلو سبب ورته پيدا شو. له ډېرو کړاونو وروسته لوېديځ ته ورغلل. وومنل شول او ژوند يې ښه شو. خويندو به يې ټوله ورځ په يو زوړ ټېپ هغه زړې سندرې اوريدې چې نورو کډوالو ورله ورکړي وو. خو د هغې د زړه غوټۍ لکه چې مړاوې وه. د دې پرديسۍ سختې بل شان وې...دلته کار و...ټوله ورځ کار...او بيا ماښام ستړې ستومانه د ټيلويژن مخ ته د نااشنا ژبې پروګرامونو ته کتل.

نن د ښار په دې لوی تالار کې د هغې د وطن جشن و. ټولو خلکو له خپلو کورونو ډوډۍ راوړې وې. د ښځو لپاره بېل ځای کې د موسيقۍ او د نڅا انتظام شوې و. نن شپه هر چا خپل غمونه هېر کړي وو. هغه هم مور او خويندو په زوره ځان سره راوستې وه. کله چې ښځو اتڼ پيل کړو نو د دې د زړه مړاوې غوټۍ هم راتازه شوه. ورپسې د ښځو ډلې ډلې پرله پسې نڅا له پاڅيدې او بيا ځان ځان له ګډا پيل شوه. رنګونه او سازونه سره ګډ شول او د مستۍ يو طوفان راغلو.

د ډوډۍ لپاره ساز او اواز بند شول او ټولې ښځې په مېزونو ورماتې شوې. هغه سترې وه او د ځان تازه کولو لپاره یو لوی تشناب ته ورغله. دننه نورې ښځې هم وې، چا ماشومانو ته لاسونه وینځل او چا ویښته ږمنځول. دا یوې چرچوبۍ ته ورغله او ځان پسې یې ور کلک کړو. د اوبو د نل شور، د لاس وچولو د مشین غرار او د " فلش" په غږ کې چا د بل خبره نه اورېده. د ښځو یوه جوپه لاړه او بله راغله، لږه خاموشي شوه. څو ښځې لوی هندارې ته ودریدې او خپل میک اپ یې تازه کړو. یوې پکې ووېل، " هغه جینۍ څوک ده؟"

"کومه؟ هغه چې ډېره مسته ګډیده؟" بلې پوښتنه وکړه. " هو، هغه زرغون کمیس چې یې په غاړه دی." دریمې ووېل. " ولې ته یې نه پیژنې؟ دا خو د...اخونزاده لمسۍ ده کنه." څلورمې ووېل. " ښه ښه! هغه مور یې چې یو کابلي ځوان سره..." د ښځې خبره په خله کې پاتې شوه او لومړۍ په حیرانتیا چیغه کړه، " هو هم هغه ...هم هغه..." دوو نورو ښځو په ګډه ووېل، " ډېره مسته ده...مور ته شوې ده..." بلې پکې ورودانګل، " مور ته نا...پلار ته..." ټول غږونه د هغوی په خندا کې ورګډ شول. دوی لکه چې ځانونه سم کړي وو او ټولې په هیږه له کوټې ووتلې. خو هغې د چرچوبۍ په دېوال سر لګولې و او ترمې ترمې اوښکې یې له سترګو څڅیدې.

# بندیوان

په دولسم کې چې يو وارې بيا ناکام شوم نو پلار مې په کور کې داسې حال جوړ کړو چې ګاونډيانو هم له ديوالونو سرونه راوچت کړل. مور مې راته مخې ته لکه د سپر ولاړه وه ګنې پلار خو ډبولم. د شا و خوا سرې او ترونه مې مرستې ته راورسيدل او پلار يې بيرته حجرې ته رانه بوتلو. د هغه قهر په ځای و ځکه زما به تولـه ورځ د خپلو نازولو کوترو او يا د ويالې پرغاړه د خپل خوږ انډيوال برات خان سره، چې ما به د مينې نه براتی بللو، په ګپ شپ تيرېده. د براتي مجلس ډېر خوږ و او کله نا کله يو نيم سګرټی به مې هم ورسره ووهلو.

اوس چې په امتحان کې بيا فيل شوم نو د پلار له ويرې څو ورځې کور ته نه تلم. ډوډی به مې هم د تره کره خوړله. اخر يوه ورځ کشر ورور راپسې راغلو چې پلار دې غواړي. زه د دوو مشر ترونو په بدرګه خپل کور ته لاړم. پلار مې غصه نه و او زړه مې لږ قرار شو. هغه لکه د قاضي راته خپله فيصله واوروله. " ته به ښار ته ځې او تربل امتحان، د انار ګل کورکې اوسيږې. تر څو چې دولسم دې نه وي پاس کړې، زما کور ته به نه راځې." په ما خو دا ودانه دنيا ورانه شوه. پلار مې حجرې ته لاړو نو مور ته مې زاری شروع کړې چې زما سفارش وکړي. قسمونه مې خوړل چې سبق به وايم خو هغې هم سترګې بدلې کړې وې. راته يې نور نصيحتونه شروع کړل. دوه ورځې

وروسته زه د کتابونو او د جامو له يو پنډ سره د ښار بسونو اډې ته بوتلې شوم. په بس کې کيناستم او د انار ګل کاکا کور ته مې ځان ورساو.

انارګل زما د پلار د ماشومتوب ملګرې او په سکول کې يې يو ځای سبق هم وېلې و. کاکا په پوليسو کې نوکري وکړه او بيا لوی افسر شو. ټول به ترې سخت ويرېدل او زما خو به ترينه ساه ختله. د هغه مشر زوی په پوځ کې و، يوې لور نازو ايم- اې کړې وه. دوو نورو زامنو او لوڼو يې هم سبقونه وېل. ځکه خو زما پلار مناسب وګڼله چې زه د هغوی د کور په تعليمی ماحول کې خپل سبق ووايم. د کاکا په کور کې په لومړۍ ورځ خو زما ښه مېلمستيا وشوه. د شپې انارګل کاکا راته په کاغذ د ورځې پروګرام وليکلو. بيا يې د خپل پوځي زوی کوټې ته بوتلم، هغه کاغذ يې په دېوال راته سريښ کړو او وې ويل. "سهار به د ملابانګ سره پاڅيږې، په لمانځه به دې ۱۰ مينټه لګي، زيات نا...بيا به د منډې لپاره ځان راوباسې." کټ ته يې اشاره وکړه، " په دې کټ خلک يواځې ۷ ساعته خوب کوي، د ځوانانو لپاره دغه هومره خوب بس وي.

دی لاړو او زما اوږده سزا پيل شوه. سهار د مونځ او منډې نه وروسته به چای وې...وروسته سبق...بيا نيمه ګينټه دمه...سبق...د غرمې ډوډۍ...مونځ... بيا سبق...د ماځيګر چای...سبق...يو ساعت ټيلويژن...بيا سبق. د شپې ډوډۍ نه وروسته به انار ګل کاکا رانه د ورځې د سبق پوښتنې کولې. په کومه ورځ چې دی به په کور کې نه و نو دغه ډيوټي به نازو سرته رسوله. هغه د پلار نه هم زياته سختې راباندې کوله. له ما مشره وه، څه خاص ښکلې نه وه او چې د سبق پوښتنې به يې شروع کړې نو سمه جلاده به ترينه جوړه شوه. په غلط جواب به يې راته پيغور راکوو، ملنډې به يې وهلې او دغه خبرې خو به راباندې سم اور بل کړو چې، "

هن! په دې هم نه یې خبر؟ زه چې په دولسم کې وومه نو دا ټول کتاب راته زباني یاد و. نازو یو بل کار هم کوو...او زما خیال دی چې پلار ورته ویلي وو. هغې به ټوله ورځ زما څارنه کوله. لږ به مې له سبق پام بلې خوا ته شو نو د دې پرښتې به خبرې شوې. لکه د ببرې چرګې د کوټې په دروازه کې راته ودرېده او خپل لیکچر به یې پېل کړو. کله کله به یې ګواښ وکړو، "ودرېږه! دادا راشي نو زه ورته وایم."

خو نازو چرې هم کاکا ته زما شکایت نه و کړې. زما د ډوډۍ به یې ډېرخیال ساتلو. چایو سره به راته کله کیک او کله بسکټ راکول. کله چې مور به یې په کور کې نه وه نو د ماځیګر چایو سره راته پراټه پخه کړه. په دوو میاشتو کې زه د هغې له عادتونو خبر شوم. اوس په سبق کې به راته براتی نه یادیدو او د شپې د کاکا پوښتنو جوابونه هم راته اسانه شول. یوه ورځ خبر شوم چې نازو د خپلې مور سره چیرته واده له تللې وه. ما د لومړي ځل لپاره احساس وکړو چې کور تش و. دوه ورځې مې سبق ته ډېره نه لګیده. کاکا د ډېرو پوښتنو ځوابونه مې غلط کړل او هغه راته په قهرشو. "بچیه سبق ته پام کوه، پلار به دې ما نه پوښتنه کوي." نازو دوه ورځې وروسته کور ته راغله نو په ما لکه چې اختر شو. د چایو په وخت یې ډېر په خوند خوند راته د واده کیسې کولې. د هغې په سترګو کې عجیبه ځلا وه اوما یې له خبرو خوند اخیستو. په هغه شپه زه پوه نشوم چې دې رانه څه پوښتنې وکړې او ما ورته څه ځواب ورکړو. خو هغه خوشاله ښکاریده. نازو چې خپلې کوټې ته تله نو ما ته یې لاس راکړو او زما په ټول وجود کې لکه د بجلۍ شاټونه وځغلیدل.

په بله ورځ چې سبق ته کیناستم نو په ټکي نه پوهیدم چې څه مې ویل. نیمه ورځ همدغسې تیره شوه او نازو چې راته ډوډۍ راوړه نو زما عجیبه

حالت و. زه په بوخته کې راګېر وم او د تيښتې لاره راته نه وه معلومه. نازو راته يوه ښکلې بلا ګرځېدلې وه او د هغې هستي او نېستي دواړه راته عذاب وو. د پلار خبره مې په زړه وه او د انارګل کاکا د پوليسو کوتک هم راته مخې مخې ته کېدو. په ښار کې مې څوک ملګرې هم نه و او براتی...خپل خوږ ملګرې راته بيخي ډېر را يادېدو. او بيا نازو د چايو پتنوس سره زما د ميز لپاره د ګلونو يوه ګلدسته هم راوړه نو زه پوهه شوم چې که د دې مخه مې و نه نيوله نو پلاربه مې ژوندی نه پرېږدي. چای مې وڅښلې او د نازو کشر ورور نورالله ته مې وويل، " زه د بسونو اډې ته ورځم چې د کلي يو ډرېور ته د مور لپاره ليک ورکړم."

په لاره مې کرل رېبل چې څه وکړم؟ لوی بازار ته ورسېدم، په دکانونو کې مې هسې آخوا ديخوا کتل. ناڅاپه د يومنياري سره مې رنګا رنګ وريښمين رومالونه وليدل. په پينځو روپو مې يو وړوکې ګلابي ورېښمين رومال واخيستو او کور ته راغلم. بيا د شپې مې ځان ته يو ليک وليکلو... په ګس لاس کې قلم نيولې، په ماتو ګوډو تورو مې وليکل. " ګرانه جانانه...که زه درباندې په رېښتيا ګرانه يمه نو د امتحان نه وروسته خپله مور موږ کره راواستوه. زه اوس بې له تا ژوند نشم کولې...ستا شهناز " په بله ورځ د سهار لمانځه او د منډې لپاره چې له کوره تلم نو په مېز مې د دوو کتابونو ترمنځ هغه ګلابي رومال او په هغې کې تاو شوې ليک داسې کېښودو چې بل څوک يې و نه ګوري. زه خبر وم چې نازو هم په دغه وخت کې زما کوټه پاکوله او په مېز به يې راته شيان سمول راسمول.

له منډې وروسته چې بېرته راغلم نو د کتابونو ترتيب بدل و. لږه شېبه وروسته د چايو پتنوس راته نورالله راوړو او زه پوه شوم چې له نازوخلاص شوم. زما غشې په نښه لګېدلې و. ټوله ورځ مې په ښه ارام سبق ووېلو، د

غرمې ډوډۍ او بيا د ماځيګرچای هم نورالله راته راوړل. نازو داسې ورکه شوه چې د هغې غږ مې هم نه اورېدو. په ګلابي رومال کې تاو شوې ليک مې له کوره بهرخيرې کړو او رومال مې هټۍ وال ته بيرته يوړو، په بدل کې مې ترينه يو قلم واخيستو. په بله ورځ امتحانونه پېل شول او کاکا او نورالله راسره هره شپه د پرچې تياری کوله. زړه مې تسله و چې ټولې پرچې مې ښې شوې وې. د امتحان د ختميدو سره زه د انارګل کاکا له کوره رخصت شوم. د روانېدو په وخت د هغه د کور ټول کسان لوی دروازې ته راغلل. نازو د مور شا ته ولاړه وه او راته ډېره کمزورې او زيړه ښکارېده. د سترګو ځلا يې ورکه وه، بلکه ګيله منه ښکارېده. زما پرې زړه وسوو. پوښتنه مې ترې کوله خو وخت نه و او هم دغسې ټولو راته د خدای په امان وويل. د جامو او کتابونو پنډ د کاکا په جيب کې کيښودل شو. زه پوه نشوم چې څه وخت د بسونو اډې ته ورسېدو، سامان يې د بس په چت وخيژولو او کاکا راته کلکه غاړه راکړه. بيا يې زما د پلار لپاره يو ليک راته د کميس په جيب کې کيښودو او زه بس ته وروختلم. په ټوله لاره د نازو څېره مې مخې مخې ته کېده، د هغې ګيله منې سترګې چې پکې اوښکې ډنډ وې. خپل ځان راته يو لوی مجرم ښکارېدو، خود غرضه او ګناه ګار. ځان ته مې بيا بيا ويل چې دې جينۍ خو تا سره څه بد نه و کړي.

کلی ته چې ورسېدم نو ماښام و او بې له ډوډۍ خوړلو ويده شوم. په بله ورځ براتي پسې چې تلم نو خور راته په خندا وويل، "لالا! ته خو نه وې...ستا د واده خبره روانه ده!" ما ورته څه پام ونکړو او د براتي سره د ويالې پر غاړه کيناستم. هغه ته مې ټول حال وويلو. ده په منځ منځ کې ټوکې کولې. اخر يې مشوره راکړه چې نازو وغواړه. زما له زړه يو لوی پيټې ليرې شو، لاره راته رڼا شوه او د براتي نه مې رخصت واخيستو. د غرمې

ډوډۍ له چې کور ته لاړم نو خور راته بیا وویل، " لالا تا ته یې جینۍ غوښتې ده." زه لړ غوصه شوم خو مور مې له تناره ډوډۍ راویستلې، مخ راواړوو او وې ویل، " آو زویه! په زرګري باندې کې موخبره کړې ده، خواږه یې راکړی دي. چې ستا نتیجه راووځي نو پلار دې وایی چې واده به درله وکړو." ما وارخطا خپلې خور ته وکتل نو د هغې په سترګو کې شوخي وه. ما ته رانزدې شوه او وروغوندې یې وویل، " د ورینداري نوم مې شهناز دی."

# تمځای

زه د کلثوم بی بي له کوره را وتلم. درې کلن شاه نذر رانه وړاندې منډې وهلې. دی هم خبر و چې نن کور ته ناوخته روان وو. د ماځیګر لمر اوس ماښام ته ځای ورکړې و. زمونږ کلې د تخت اباد په لاره و او ما به هرماځیګر د عیدګاه د اډې نه بس اخیستو. مونږ چې اډې ته ورسېدو نو یو بس رانه لاړو. شاه نذر د نورو ورځو په شان ګنډېرۍ غوښتلې خو د ګنډېرو ګاډې هم نه ښکارېدو. زه په تادۍ کې وم او د زوی لاس مې ونیولو، یو روان بس ته مې منډه کړه. بیا د کلندړ غږ مې واورېدو چې، "په لاره نه ودرېږو، یواځې د تخت اباد سورلۍ...تخت اباد...تخت اباد ته. زه هم هلته ودریدمه. یو بل سړی هم ما پسې په منډه و او زه چې درېدم نو هغه راته داسې ټېله راکړه چې نزدې په زمکه غوځاره شوې وای. شاه نذر اوس هم ګنډېرۍ غوښتلې. شا و خوا مې وکتل خو یو ګاډې هم نه و. دا مهال لکه چې ټول ګاډې وال هم کورونو ته تللي وو. شاه نذر مې دلاسه کړو چې په خېره کور ته ورشو نو پراته به ورله پخوم. خو هغه ورو ورو په ستګېدو شو. زه د ټولې ورځې ستړې ستومانه وم، زړه مې و چې یوه څپېړه ورله ورکړم خو لاس مې ونیولو. کلثوم بی بي راته خوړې وریژې په پلاستکي کڅوړه کې راکړې وې، هغه مې شاه نذر ته ونیولې. خوهغه اوس په ډوډۍ موړ و او چبینه یې غوښتله.

زه د کلثوم بي بي کره کار کووم. سهار وختي له کلي روانه شم، د هغې د کورلوښې او جامې ورته وینځم. ما ته د میاشتې پیسې او اختر، برات کې

جامې پیزار راکوي. نن ورکره د واده د سدې(ست) میلمانه وو. لوښي ډېر او چې هغه ټول مې ووينځل نو ناوخته و. ما سره د خوابښې غم هم و، مشره لور مې ورسره په کور کې وي او کله چې راباندې ناوخته شي نو هغه بیا زما لور ته غورېږي. شاه نذر اوس سمه ژړا کوله او یو وارې بیا یې سړک ته منډې کړې. ما هم ورپسې وځغستل. دی د یوځوان سره وجنګېدو چې د سړک له بلې غاړې را روان و. ما ولیدل چې هغه سړي شاه نذر اوچت کړو او زما په لوري یې قدم واخیستو. زما په خله راغلې ښېرا د غاښونو لاندې پاتې شوه ځکه هغه ځوان ډېره په خوږه ژبه د شاه نذر سره خبرې کولې او زما زوی داسې غلې و لکه چې ژړا یې نه وه زده. زه ورنږدې شوم، نه پوهیدم چې څه ورته ووایم. هغه زما په وجود یو ځغلنده نظر واچووچې په بورقه کې پټ و. بیا یې سترګې ټیټې کړې او ورو غوندې یې وويل، " دا ماشوم ستړې دی." ما له بورقې لاس وويستو چې شاه نذر ترې واخلم خو هغه زما لاس لکه چې نه لیدو. ورو ورو زما د زوی سره یې خبرې کولې...نرمې نرمې...خوږې خوږې خبرې.

ما شا وخوا وکتل، په اډه کې خلک لږ وو. یو څو هغسې سړي وو چې هره ورځ به زما چاپېره ګرځېدل او ځینو به کله کله مردار نظر هم راباندې کوو. ما به له دې ویرې، په سختې ګرمۍ کې هم جرابې په پښو کولې. بورقه مې د خوابښې وه، زړه او خیرنه. لاسونه مې په لوښو او جامو وينځلو وچ او بدرنګه شوي دي. خو نه پوهېږم چې دا سړي څنګه خبر شي چې په بورقه کې پټه ښځه ځوانه ده که بوډۍ؟ یوه بله لارۍ راغله او کلنډر چغې کړې. څو کسان وروختل خو زه چې ترهغې رسېدم نو اعلان یې وکړو، " یو سیټ دی...دوه کسان نه ځاېږي." ما شا ته وکتل او لاس مې وغځاو چې د ځوان نه شاه نذر واخلم او لارۍ ته وخیژم. کلنډر داسې وګڼله چې مونږ دواړه یو

ځاې و. لارۍ ته يې "درب" ورکړو او هغه په هوا شوه. د ځوان له خلې ناڅاپه راووتل، " څه کمعقل بچې دی، پوښتنه نه کوي او ځغلي."

اوس په ما ښه ناوخته شوې و خو د کلنډر خبرې راته خوند راکړو. ډېره موده وروسته يوه عجيبه خوشالي راسره شوه-نامعلومه خوشالي. ما خواوشا وکتل، يو دوه نورې ښځې راغلې. څلور پينځه ماشومان ورسره وو. ښځو زما او ځوان ته کتل. شاه نذر اوس د سړي په اوږه سر ايښې او سترګې يې ورغلې وې. مونږ درې واړه د يو کور ښکارېدو، ښځه — خاوند او ماشوم. بيا زه د خپل وجود نه بهر شوم او نزدې د يوې ونې په څانګو کيناستم. د بره نه مې دا ننداره وليده. يوه ښځه، يو سړی او يو ماشوم. څومره ښکلې ننداره وه...لکه د خوب دنيا...هر څه پکې پوره وو. ځوانه ښځه ، ځوان سړی...يو بل ته نزدې ولاړ دي. سړي خپل درې کلن ماشوم په غيږ کې نيولې دی...ماشوم ويده دی. سړی د لارۍ انتظار کوي او ښځه خپل سړي او ماشوم ته ګوري. ښځه بې غمه ده. دا غم ورسره نشته چې لارۍ به کله راځي، تش سيټ به پکې وي او که نا؟ کلنډر ته به کرايه څوک ورکوي...ماشوم ته به څوک ګوري؟ دا ټول غمونه د سړي وو.

تخت اباد ته...تخت اباد ته...بله لارۍ راغله او د کلنډر شور او چغو زما دا ښکلې خوب دانه وانه کړو. ځوان زما نه وړاندې لارۍ پسې منډې کړې او کلنډر ته په چغه لګيا و. " استاد ته وايه لږ بريک ونيسه." بيا يې ما ته مخ واړوو، " زه خورې! ته لارۍ ته ورخيژه." زه لارۍ ته وختلم او شاه نذر مې ترې واخيستو. ځوان کلنډر ته وويل، " زه نه درځم وروره." او ګړندی ګړندی بلې خوا ته روان شو.

# دوزخي ارواح

۱۹۹۶ عیسوي کال...د جولای میاشت

یا خدایه...هر ځای دې وای خو کابل دې نه وای...یا ربه...کله به د دې بدبخته ښار نه ووځو. ډوډۍ پکې نشته...کار روزګار نشته...هر وخت د جنګ خطر! اوس به کوم شی خرخوو...په کور کې مو هیڅ نه دي پاتې...خدایه! ته لکه چې مونږ نه مرور یې! د ملالۍ په پښو کې پیزار نشته...د مراد خان دغه دوه جوړه کالي پاتې دي. چې بدلوي یې نو میاشت پکې آوړېدلي وي. صابون هم اوس د سرو زرو په بیه خرڅېږي...که نه هره ورځ به مې ورته وینځلای. او د ادې دارو نشته...ټوخی یې نه ښه کېږي...توري چای ورته ښې نه دي. خو څه وکړو؟ د توغندو او د بمونو په ډزو چې پروسږ کال د دې اعصاب خراب شوي دي نو تر اوسه ګډې وډې وایي. خدای دې مل شي...اې خدایه دا ښار په مونږ اوس تنګ دی. خو چرته په ځو؟ له دې دوزخه به کله ووځو؟

۱۹۹۷ عیسوي کال د جولای میاشت

یا خدایه! هر ځای دې وای...خو پیښور کې دې نه وای. یا ربه! دا کوم دوزخ ته دې راوستلو؟ داسې ګرمي! اف اف! سید ګل ماما سره دې خدای ښه وکړي چې دا باد پکی یې راته راوړو...که نا په دې مهاجرت کې څوک د

چا پوښتنه کوي؟ د دې بدبخته ښار په حساب هم نه پوهېږو. کله پکې بریښنا نه وي او کله اوبه نه وي او کله ګېس هم بند شي. ملالۍ ها بله ورځ د بوټانو جوړه په بیه کړه. ماښام چې د خوړلنې واده له روانه شوه، بیا یې طلای ګل ترې شکیدلې و. دکاندار ته یې بیرته یوړو نو هغه ورسره شر کاوه. ویل یې، " ستاسو د کابلیانو...هن...لکه چې دا پیښوریان به ډېر ښه وي؟ په هر شی کې " ملاوټ" کوئ...په شودو کې اوبه ګډوئ او د میوې خوند؟ بیخي بې خونده دي...هندوانې داسې پیکه...خربوزې یې وچې...انګور خو لا پرېږده...ادې بس یوه کیله خوري...په هغې مړېږي. زه ښه ده چې د ټوخي علاج یې وشو. خو زما د نازولي مراد خان رنګ په لمر کې تک تور شو. یا خدایه! د دې ښار له عذابه مو خلاص کړه. خو چرته به ځو؟ له دې دوزخ به کله ووځو؟

۱۹۹۸ عیسوي کال...د جولای میاشت

یا خدایه! هرځای دې وای خو هالینډ کې دې نه وای. یا ربه دا کور خو لکه قفس دی. ها قفس به هم ترینه ښه وي. دغه دوه کوټې دي...هاغه د میز نه لږ لوی پخلنځی...او یوه دا کړکۍ. د حکومت په پېسو خو هیڅ نه کېږي...ایله ډوډۍ پرې خورو. ښه وه چې د قاچاق پور مو ادا کړو. مراد خان او ملالۍ ته دې خدای ژوند ورکړي، ډېر همت یې وکړو. خو دلته داسې ګراني ده چې ځان ته یې څه جوړ نکړل. ښه ده ملالۍ اوس شېږ جوړه پیزار لري...خو...اې ربه د ادې به څه کېږي؟ ټوله ورځ ژاړي چې مړې به مې مساپر شی. زما خپله نفس تنګ شي...د دې ځای ژبه میراته هم ډېره ګرانه ده. حاجي صیب سره دې خدای ښه وکړي...په هوټل کې ورته لوښي وینځم...ګوزاره راسره کوي. خو...اې خدایه! ته مهربان یې...دلته هیڅ خوند نه راکوي. خو چرته به ځو؟ د دې دوزخ نه به کله ووځو؟

۱۹۹۹ عیسوي کال، د جولای میاشت

یا خدایه! هر ځای دې وای خو کلیفورنیا دې نه وای. یا ربه! ادې دې رانه واخیسته...ساعت به مې ورسره تېر و...خبره نیمه به مې ورسره وکړه. ملالۍ ټوله ورځ د بوټ په مغازه کې ولاړه وي، بوټونه خرڅوي. ماښام کالج ته رانه لاړه شي. مراد خان د شپې ټیکسي چلوي، د ورځې ویده وي. اوس یواځینۍ اسرا مې د ټیلیفون وي خو په هغه هم ډېرې خبرې نشم کولای، بیا مې څټ خوړېږي. کور مې ډېر لوی دی...باغ هم پکې شته. خو هیڅوک نه لرم چې راشي او زه ورسره خبرې وکړم. یا خدایه! په پخلنځي کې د خوړو هرڅه شته خو اوس یواځې ډوډۍ خوند نه راکوي. مراد خان مې نه پرېږدي چې کار وکړم. وایی خپلوان به پېغور راکوي. هر چا ته وایم چې ما کابل ته بوځئ خو هیڅوک مې نه اوري. د ملالۍ او مراد خان د واده غم راته بېل غم دی. خدایه! چرته لاړ شو؟ له دې دوزخ...

# نومبر ۱۹۹۹

# د ډیوې په غیږ کې

زمونږ د کواټر له دېوال هر څه ښکارېده. ما زوږ کټ د دېوال سره دروليٍ و او د جينكو ننداره مې كوله. مامي راته ويلي وو چې زه سبل وکړم. نن د سبق وروستۍ ورځ وه. ماما راته ويلي وو چې د اوړي د چتيانو لپاره به نن د هاستل جينكو پسې خپل خپلوان راځي. اوس دا ټولې جينكۍ د ښوونځي د لوی دروازې راټولې وې. په دوی کې ډېرې زه په نومونو پیژنم. کله چې به مې ماما د دروازې نه ليرې و نو دغو جينكو به ما ته پيسې راكولې چې بهر د سړک نه ورته وړې يا ګنډېرۍ راوړم.

شینوماما ډېر سخت دی ځکه خو د ښوونځي مشره استاده وربانديې اعتبار کوي. اوس د هاستل جينكو كډې تړلې دي او د خپلوانو په انتظار د لوی دروازې خوا و شا اوړی راوړی. دوی نن د ښوونځي جامې نه دي اغوستې او زه د دوی جامو ته ګورم. بهر د موټرو شور دی او هره شيبه وروسته شينو ماما رادننه كېږي او د يوې جينۍ نوم په زوره اخلي. د جينكو په يوې ټولۍ کې شورغوندې راپورته شي. څوک خاندي...څوک په زوره زوره خبرې کوي. او بیا هغه جینۍ چې شینو ماما یې نوم اخستې وي، څادر په سر سم کړي او شينو ماما د هغې بکس او نوره كډه راواخلي. جینۍ چې له دروازې ووځي نو ټولې ورته په زوره " د خدای په امان" ووايی.

زما د دوی چیغې ډېرې خوښېږي. زړه مې شي چې زه هم د دوی سره چیغه ووهم. په ځینو جینکو پسې مېندې یا مشرې خویندې هم راغلې وې. دوی څو شیبې د نورو جینکو سره خبرې وکړې، بیا به لاړې. شینو ماما راته ویلي ووچې دا ټولې جینکۍ به دوه میاشتې وروسته بیرته راځي. خو د لسم والا جینکۍ به بیا نه راځي ځکه هغوی چې امتحان ورکړي، بیا نو سبق یې خلاص دی. هاغه ده وروستۍ جینۍ هم روانه شوه. زما زړه کېږي چې منډه کړم او د هغې په اوږد پړوني کې پټه ورسره لاړه شم. خو د شینو ماما او مامي نه ویرېږم.

اوس شینو ماما لویه دروازه بنده کړه او په کنډې یې لویه جرنده ولګوله. هاغه دی! د کواټر په لوري را روان دی. مامي راته غږ کوي چې راشه ډوډۍ وخوره، خو زما ډوډۍ ته زړه نه کېږي. دا ښوونځی به دوه میاشتې تش وي او زه به ددې په خالي برنډو کې یوازې لوبې کووم. د جینکو د سبق، د زدکړې غږ به هیچرته نه اورم. د کتابونو شلیدلې پاڼې او د قلمونو وړې ټوټې چې زه یې راټولوم او د جینکو د سبق پېښې پرې کووم، اوس به رانه ورک شي.

ما شینو ماما او مامي ته څو وارې ژړلي دي چې زه هم سبق وایم. خو مامي مې ناروغه ده او زه د هغې خدمت کووم. شینو ماما په بدل کې زما پلار ته د میاشتې پېسې ورکوي. اوس شینو ماما مخ لاسونه وینځي. ورځم چې د مامي سره لاس وکړم.

# شاعره

نن د کورس څلورمه ورځ وه چې اسد الله غیاث د نړۍ د دېرشو ملکونو نه راغلو ۷۰ کسانو سره په یو لوی تالار کې ناست و. د دوی ټولو یو هدف و چې په دوو میاشتو کې به انګرېزي ژبه زده کوي. د سهار له نهو بجو به د دوی سبق پېل شو او د ماځیګر تر پینځو بجو به روان و. ټول کسان په یوې لوی ودانۍ کې ایسار وو. د سهار د چایو نه وروسته به دوی هغه لوی تالار په لوري روان وو او ورته په سخته ویل شوي وو چې یو بل سره به بې له انګرېزي په بله ژبه خبرې نه کوي.

د سبق یوه برخه د انګرېزي ادبیات هم و او نن په دې څلورمه ورځ د اکسفورډ پوهنتون یو استاد په ادبیاتو کې د شعر په اړه خبرې کولې. اسدالله ورته غوږ نیولې و ځکه دا د هغه د خوښې موضوع وه. لیکچر چې خلاص شو نو پوښتنې پېل شوې. اسدالله هم غوښتل چې یوه پوښتنه وکړي خو ژبه یې لا دومره روانه نه وه. دی ویرېدو چې غلطه انګرېزي و نه وایي. په دې کې یوه جینۍ راپاڅېده او پوښتنه یې وکړه چې، " که په ادبیاتو کې شعر نه وای نو څه به وای ؟ آیا زمونږ په ژوند کې به څه بدلون راغلی وای ؟ اسدالله اوس خپل قلم ایښې و او د هغې جینۍ په پوښتنه یې غور کوو. زړه یې کېدو چې د استاد په ځای دی ورته جواب ووایي. د هغه په زړه ډېرې خبرې وې او د استاد په جواب یې تسله و نه شوه. د زړه خبرې

يې په زړه کې پاتې شوې. سبق خلاص شو نو ټول بهر ووتل او اسدالله د هغې جينۍ په لټه شو. هغه يې په لومړۍ ورځ هم ليدلې وه او د دې جذابه څېره يې نه وه هېره کړې. خو په ګڼه ګوڼه کې هغه ترې ورکه شوه.

په بله ورځ يې هغه وليده چې د خپلو ملګرو سره په چمن کې ناسته وه. اسدالله لاړو او خپل ځان يې وروپيژندلو. هغې هم ورته خپل نوم سوفي وښودلو. اسدالله ورسره د شاعرۍ په اړه د هغې پوښتنه وريادده کړه نو د سوفی په سترګو کې يوه معصومه شوخي ښکاره شوه. د ده نه يې پوښتنه وکړه، " ته لکه چې پخپله شاعر يې ؟" دی موسکی شو او ورته يې وويل، " که زه شاعر وم نو ته به څه وکړې ؟" سوفي په خندا شوه خو هيڅ جواب يې ورنکړو او موضوع يې واړوله.

په يوې مياشت کې د اسدالله ژبه روانه شوه او ده به هر چا سره بحثونه کول. د سوفي سره خو څو څو وارې په ادبياتو خبرې کړې وې او بيا حال دا شو چې د چای او ډوډۍ په وخت به هم دواړه په خبرو لګيا وو. اسدالله به اوس چې ځان له شو نو د سوفي په اړه به يې فکرونه کول. هغه عامه غوندې جينۍ وه خو کله چې خبرې به يې پېل کړې نو د اسدالله د زړه بورجلونه به په خوځېدو شول. سوفي ته به يې په سترګو کې زړه نيولې و. په کومه ورځ چې دا به ناوخته راغله نو د اسدالله سترګې به دروازې ته وې. د هغه ځينې نزدې ملګري يې په حال خبر شول، ځينو به ورپورې ملنډې وهلې او نورو به ورسره زړه سوي کوله. خو اسدالله سوفي ته د خپل زړه حال نشو ويلې. دی ويرېدو چې هسې نا هغه وربانديې غصه شي.

هم دغسې يوه ورځ دوی د شاعرۍ په اړه يو اوږد بحث کې بوخت وو. نابېره سوفي ورته وويل، " ته د شاعرانو دومره پېروي کوې...که زما په وس

واى نو دې کورس ته د داخلې لپاره د اعلان په پوسټر مې ليکلې واى چې دې ته شاعران نشي راتلی." په اسد الله لکه چې اسمان راپرېوتو. هغه د قهر او غصې نه ليونی شو. په لوړ غږ يې د سوفي سره بحث پيل کړو او ورو ورو سم جنګ جوړ شو. سوفي بيا بيا د خپلې سپيناوۍ لپاره خله خلاصوله خو اسدالله هيڅ نه اورېدل. بيا دی د خپل ځای نه راپاسېدو او په منډه له کوټې ووتلو. سوفي ورپسې ډېرې چيغې ووهلې چې " ايسار شه!" دا ښه وه چې دوی د تفريح په کوټه کې ناست او نورو خلکو ورته دومره پام و نه کړو. د اسدالله دنيا لکه چې ورانه وه، دی نيغ خپلې کوټې ته ورغلو او دروازه يې ځان پسې کلکه وتړله. هغه له ټولو خفه و. سوفي ورباندې لوی ګوزار کړې و او اوس ده په چغو چغو وژړل. د ځان سره يې ژمنه وکړه چې بيا به د سوفي مخ هم و نه ګوري.

تر ماښامه ډېرو خلکو د ده د کوټې دروازه وټکوله خو اسد الله د جامو او بوټانو سره، پر کټ ړنګ بنګ پروت و، بيا هم دغسې ويده شو. سهار وختي را ويښ شو او غوښتل يې چې د کلاس په ځای کتابتون ته ورشي ځکه وروستې ازموينې ته لږې ورځې پاتې وې. د مخ لاس وينځلو لپاره چې د کوټې له دروازې بهر وتلو نو پر زمکه يې يوه لفافه وليده. ژر يې راواخيسته، هم هغسې بيا په کټ کيناستو او په لفافه کې ايښې کاغذ يې راوويستو. په هغه کاغذ چې څه ليکلي وو، د هغې په لوستلو، اسدالله لکه د لېوني په خندا شو. دومره يې وخندل چې په سرو سترګو کې يې بيا اوښکې راغلې. په هغه کاغذ سوفي په يو اوږد شعر کې ترې بخښنه غوښتې وه او د خپلې مينې اظهار يې کړې و.

# وريژې او غنم

"ای زما وطنه..." د دې وينا سره د هغه سترګې له اوښکو ډکې شوې. ښځه يې هم په ژړا شوه، ټول واړه يې ساه نيولي ناست وو. دوی خپله مور پخوا هم په ژړا ليدلې وه خو دا لومړی ځل و چې پلار يې ژړل. د ټولو سترګې مخامخ ټيلويژن ته وې، هلته د افغانستان په اړه يو رپورټ يې ښودلو...کنډوالې، ړنګې ودانۍ، خوارځواکي ماشومان...هرې خوا ته بدحالي ورګډه ښکارېده. راپور جوړونکې خبريال لګيا و چې که په دې ملک کې هم دغه حال و او د خوراک نړۍ والې ادارې ورسره مرسته ونکړه نو کيدې شي چې خلک يې د افريقې په شان له سختې قحطۍ سره مخ شي.

د دې راپور نه وروسته غنمرنګ بيا نور خبرونه و نه کتل. فکر يې خپل وطن کې و، ډوډۍ ته يې زړه نه کېدو. له خلې يې يو سوړ اسويلی راووتلو اود ځانه سره يې وويل، " پاکه ربه! تر کومې به زمونږ دا حال وي؟" بيا يې نااميدي په قهر بدله شوه، غږ يې اوچت شو...دومره اوچت چې ښځې او ماشومانو يې هم اورېدل. دی لګيا و، " دانړيوالې ادارې...دا ملکري ملتونه...دا ټول دې د خدای په غضب اخته شي. ولې پوره مرستې نه ورلېږي؟ حرام خواره، خپله لوی لوی معاشونه اخلي، غونډې کوي او په غونډو کې تشې خبرې...دوی ټول د تشو خبرو لپاره پيسې اخلي...زما د وطن په غم کې والله که څوک وګرځي؟" د غنمرنګې ښځې او ماشومانو دا

هر څه اوربدل. د هغوی زړونه په درزا وو. غنمرنګ د شپې تر ناوخته همدغسې وېناګانې کولې او اخر یوه شېبه داسې راغله چې د خوب ښاپېرۍ پرې خپل مهربانه لاس کېښودو.

په بله ورځ چې دی له کوره وتلو نو ښځې ورته وویل، " یا سړیه! ماښام میلمانه لرو...چې هېر دې نشي." غنمرنګ سر وخوځاوه او کار ته لاړو. په کوم دفتر کې چې ده کار کوو، هلته ځینې اروپایان هم وو او د ډوډۍ په وخت کې به یې ورسره د خپل وطن حالات څېړل. نن هغه ته خدای موقع په لاس ورکړې وه. په بېګاني راپوریې خبرې کولې. غنمرنګ په خبرو کې احساساتي شو، خپل سوک یې مېز ته راخلاص کړو او وې ویل، " هغه وخت چې د روسانو سره مو جنګ وو، د هرې خوا نه مرستې ور روانې وې، اوس چې دا دومره لوی قدرت مو ورته نسکور کړو...نو ټولوترې لاس واخیستو...اوس څوک د روانډه په غم کې دي...څوک د بوسنیا په لوري روان دي...نور خو پرېږده، د بنګله دیش وړي هم ماړه شول. ولې مرستې ورباندې نه دي ودرېدلي...نه ګوري...هیڅوک زمونږ خوار هېواد ته نه ګوري..." غنمرنګ په خپلو جذباتو کې راپاسېدو او یو اروپایی ته یې وویل، " شرم پکار دی...شرم." هغه اروپایی هک پک پاتې شو، له خلې یې راووتل، "چا ته؟" غنمرنګ په ډېرو احساساتو وویل، " امریکا او اروپا ته شرم پکار دی...دوی د انساني حقوقو خبره کوي او زما د وطن وړي ترېنه هېر دي."

د ډوډۍ وقفه هم داسې تېره شوه. د کارنه وروسته ماځیګر چې غنمرنګ د خپل کور په لوري روان شو نو د ښځې خبره یې په زړه شوه. بازار ته لاړو، سودا یې وکړه او چې کور ته ورسېدو نو سم ماښام و. میلمانه ورکره راغلي وو او هغه ټول سامان پخلنځي ته یوړو. بیا پخپله لاړو د میلمنو سره کیناستو.

هغوی سره په خبرو دومره وخت تېر شو چې ډوډۍ پخه شوه او دسترخوان يې وغوړوو. غنمرنګ پخپل لاسونو ميلمنو ته په زوره خواړه ورکول. " ته خو دا غوښه واخله وريندارې." بيا يې پتنوس راواخيستو، " هن لالا! دا د چرګ کباب ډېر خونده وردي..." زوی ته يې مخ واړوو، " ورشه بچيه! د هډوکو لپاره يوه رکابۍ راواخله." بيا يې د وريژو غورۍ اوچته کړه، " خورکۍ دا وريژې ډېرې خاصې وريژې دي...د لغمان د وريژو خوند به درنه هېر شي."

په ټيلويژن يې نن هم ځانګړې راپور ښکاره کوو. دا ځلې د روانډه وار و، خو هيچا ورته نه کتل. يوميلمه غنمرنګ ته وويل، " ته لغمانۍ وريژې يادوې...خبر يې! ما ها بله ورځ د افغانستان "ډېره دوني" وريژې پيدا کړې. ياره څه کاپرخوند يې و...تا ته وايم غنم رنګيه! بله اوونۍ به تاسو ټول زمونږ ميلمانه ياست."

# د چمن راز

د تیرې یوې اوونۍ راهیسې، رازګل ډېر بوخت و. پخپلو پیسو به یې سهار وختي اخبار واخیستو او په لاره به یې لوستلو. د صابون جوړولو په کومه کارخانه کې چې ده کار کاو، هلته به ټوله ورځ د رازګل نه پوښتنې کېدې چې د رنګ شوې حکومت په اړه په اخبار کې څه لیکلي وو؟ ایله څو ورځې کېدې چې په ملک کې پوځ واک ترلاسه کړې و او د صابونو په دغه کارخانه کې ټول مزدوران خوشاله وو. یواځینی کس چې پخپلو پیسو به یې اخبار اخیستو او لوستلو، هغه رازګل و او هر چا ته به یې معلومات ورکول.

رازګل د ماښامې هم اوزګار نه و، د خپل ګاونډې طوطې سره به یې د نانوایې مخې ته په مات دېوال بنډار تود کړو نو د چم ګاونډ نور سړې هم ورته ودرېدل. د شپې تر ناوخته به د دوی خبرې روانې وې، هر چا خپله ډنګوله تر څو زړه به یې یخ شو. یوه خبره د ټولو شریکه وه چې د لیرې کړې شوې مشر ته دې سخته سزا ورکړې شي. رازګل به د دې بنډارونو مشر ویاند او کور ترې هېر و. څو وارې بوډا پلار ورپسې پخپله راوتلې و چې کور ته دې ورشی. ښځې هم ورته ډېرې بدې ردې ویلې وې خو رازګل په دغه چم کې یواځینی لوستې سړې و.

هغه تر لسمه سبق ویلې و او نن سهار چې اخبار یې ولوستو نو نوې خبرې پکې لیکلې وې. له بده مرغه ټوله ورځ په کارخانه کې د خبرو موقع پیدا

نشوه. مشر منیجر، هغه د یو ځو درنو میلمنو سره لوی بازار ته ولېږلو. بیا ورځ یې د دوی سره سرګردانه تېره کړه او اخرچې د ماځیګر له چایو وروسته نانوایی په لوري روان شو نو اخباریې په ترخ کې نیولې، سم په منډه و. بیا نو بندار ښه تود شو. هرچا د دې خبرې نه خوند اخیستو چې د شړل شوي مشر د سرکاري کور نه عیش خانه جوړه وه. په سرخبر کې لیکلي وو چې د مشر د خوب کوټې نه ځینې شیان موندل شوي وو. د خوب ګولۍ، د هندي فلمونو ویډیوکېسټ، هارمونیم او د جنسی توان ګولۍ. په دغه وروستي توکي خو هرچا خندل. د مشر د میرمنې نوم یې یادوو او بیا د مردارو او جنسي ټوکو یوه لړۍ روانه شوه. ان تر نیمې شپې ټولو خپل زړه پرې یخ کړو.

رازګل او طوطي چې د خپلو خپلو کورونو تمبې وټکولې نو دواړو کې د خوبولو غږونو احتجاج پورته شو. طوطي خو په ارام ورننوتو خو د رازګل پلار چې ورته د تمبې زنځیر پرانستو نو ورسره د ښکنځلو ناتار یې پرې جوړکړو. رازګل سرټیټ نیولې خپلې کوټې ته لاړو. ښځه او بچي یې ویده وو. دی هم ورو غونډې په خپل کټ پریوتو. ولې د خوب ښاپیرۍ له هغه الوتلې وه. دده سوچ د شړل شوي مشر د کوټې شیانو کې بند و. بیا دا فکر لکه د عزرائیل، د ده کوټې په ګوټ کې ایښې، د اوسپنې صندوق مخې ته ودرېدو. د شپې په دې تکه توره تیاره کې هغه ته د صندوق جرنده صفا ښکارېده. "که دا جرنده چا ماته کړه!" هغه په کټ کې اړخ واړوه، "که زه مړ شوم!...که غله کور ته راشي!" او د ده په ذهن کې دا "که...که...که" دومره ډېر شو چې اوچت په کټ کې کېناستو. د دې هرې "که" سره یو "نو" هم مل و او د "نو" لکۍ د هغې خړې لفافې سره تړلې وه چې د دې اوسپنیز صندوق په تل کې پرته وه.

په دغه خړه لفافه کې داسې څه خاص شیان هم نه وو چې دی پرې شرمېدو. یوڅو پخواني تصویرونه، د ده د لسم سرټیفکیټ، د اخبارونو نه پرېکړې څو خبرونه او هغه لیک...د لیک په یادولو دی ناارامه شو. که دا لیک څوک ولولي نو... او له دې "نو" نه وروسته ورته یوه نالیدلې بلا ولاړه وه. هغه د بلا د حملې لپاره ځان تیار کړو. " څوک به یې ولولي؟" پلار او ښځې یې سبق نه و ویلې...مشر زوی یې د دولسو کالو و. اوس به یې کله نا کله د زړو اخبارونو په لوستلو ولیدو. ده د زوی کټ ته وکتل، په تیاره کې ورته د هغه مخ نه ښکارېدوخو کټ مټ د رازګل په شان و. پلار به یې خلکو ته هم دغه ویل چې که د رازګل ماشومتوب لیدل غواړئ نو اسرار ګل ته وګورئ. دی بیا په کټ سملاستو او دا فکر ورته پیدا شو چې که اسرارګل هغه لیک ولوستو نو څومره پوښتنې به ورسره پیدا شي...لویه پوښتنه به د "چمن" په اړه وي. چمن څوک و؟

چمن هغه وخت په لسم کې و، کله چې رازګل په نهم کې سبق ویلو. دی به هره ورځ د سبق نه وروسته د ښوونځي نه بهر رازګل ته ولاړ و. رازګل سره به یو ځای کور ته تلو او په لاره به یې ورته ګنډېرۍ اخیستې. ده سره به یې کله کله فټبال هم کوو. ټولو ته به یې ویل چې " رازګل د چمن ګل ورور دی." خو په هغه بدنصیبه ورځ دوی له یو بل جلا کړې شول، کله چې په یوې تنګې کوڅې کې چمن ګل د رازګل مخ ښکل کړو. هغه شیبه یو استاد پرې ورپېښ شو او دواړه یې ښه وډبول. رازګل نه پوهېدو چې دوی څه ګناه کړې وه؟ چمن به تل د ده لاس نیولو او دغه تنګه کوڅه کې د هغه ښکلول ورته ډېر خوند ورکاو. خو د چمن ګناه لکه چې ډېره لویه وه ځکه هغه له ښوونځي وویستل شو. بیا څو ورځې وروسته هغه رازګل ته یو اوږد لیک واستاو. داسې ارماني لیک! او پکې د مینې داسې خبرې! ...رازګل تر

ډېرې مودې هغه ليک په بده ګرځوو.  بيا خبر شو چې چمن په رڼا ورځ چا ډک بازار کې په ډزو ويشتلې و.  په ښوونځي کې هلکانو ويل چې چمن بدعمله و ځکه يې دا انجام شو.  خو رازګل به د شپې ورپسې پټ پټ ژړل. د هغه په لاس ليکل شوې ليک ورته د ژوند يواځينۍ شته مني وه.

رازګل ته د واده نه وروسته هم کله نا کله چې چمن ګل ورياد شو نو هغه ليک به يې رااويستو او څو څو وارې به يې ولوستو.  خو نن شپه...هغه نابېره د هلکتوب له دور په يو ټوپ کې رااوټلو.  داسې يې وګڼله چې سبا د نانوايي مخې ته به ټول د خړې لفافې ليک ولولي او ده پورې به خاندي.  د چم ګاونډ ټول ځوانان به د ده د ښځې نوم اخلي او وايي به چې ، " رازګل خو...

په بل سهار چې رازګل د صابونو د کارخانې په سپين وېګن کې کار ته روان شو نو د اخبار لوستلو نه وړاندې يې شيشه ښکته کړه او کله چې ويګن په منډه شو نو ده په خپل موټي کې نيولې د چمن د ليک وړې وړې ټوټې په باد والوزولې.

# سلاسل

جیکي د سره رنګ پوستين صندوق ته ودرېده نو داسې ورته ښکارېده لکه چې د اوسپنې جوړ، د هغې د قد نه لږ اوچت ښځانه صندوق هم ورباندې ژاړي. له دې پوستې بکس نه هغې د خپل ژوند د خومره مهمو فیصلو لیکونه استولي وو. د دې په سر د برطانیې د شاهي تاج نخښه وه او جېکي یو وارې د خپل ماشوم زوی د پوښتنې په جواب کې ورته ویلي وو چې دا صندوق لکه د یو شهزاده دی. ولې نن دا شهزاده ورته یو ځنګلي مارغه معلومېدو او د دې د لاس نه هغه لیک په خپله منبوکه کې د اخستو لپاره تیار ولاړ و، چې جیکي نن ورته سپارلو.

د جېکي د ژوند ډېر کارونه اوس په دې شهزاده نه وو ترلي. د ګېس، برېښنا او د ټیلیفون حساب به د بېنک نه نېغ په نېغه ورکړې کېدو. زیات تره خبرې یې اوس په ټیلیفون یا په اي-مېل کولې. خو اوس هم د ځینو کارونو لپاره به ورته دا شهزاده تیار ولاړ و. د کرسمس په ورځو شپو کې به لسګونه کارډونه، د مالیې او د بیمې لاسلیک شوي پاڼې، د زوی او د لور د نوم اینښودو بلن لیکونه، سپین ږیرو او سپین سرو خپلوانو ته لیکونه به هم د دې صندوق له لارې یې ورلېږل. کله کله به دا ورته د خپل کور د یو غړي په شان ښکارېدو او دا یې له کوره دومره لیرې هم نه و. جېکي چې اوس په کوم ځای ولاړه وه، هلته نه یې د خپل کور کړکۍ لیدای شوه.

جېکي په خپل لاس کې نیولې لفافې ته یو وارې بیا په ارمان وکتل، د پوستې صندوق سره یې سر ولګوو او په ژړا شوه. په دې لفافه کې د هغې د تېرو لسو کالو ژوند بند و، چې نن یې خاتمه کېده. هغه د ملک تر ټولو اوچتې کمپنۍ کې د " پرسونېل" مشره وه، خپل قابلیت دغه مقام ته رسولې وه. خاوند یې هم په دې کمپنۍ کې په لوړه عهده کار کوو. دواړه ښایسته ځوانان وو، په یو بل مئېن... زوی یې د څلورو کالو و او په دغه موده کې هغې ډېر په مېړانه خپل د کار مصروفیتونه او کورنۍ ژوند په مخ بیولو. اوس د هغې یوه لور هم وه، د شپږو میاشتو امبر. په څلورکلن "جان" خپله خور ډېره ګرانه وه خو اوس به هر سهار ده ژړل. د جېکي زړه به هله ټوټې شو چې کله جان د ښوونځي په دروازه ورپورې ونښتو چې، " ته ما ولې پرېږدې ؟" جېکي د دواړو ماشومانو لپاره د یوې نرسې انتظام هم کړې و چې له ښوونځي وروسته به یې دواړه ورته ساتل. دا په خپل کار کې ډېره کامیابه او د ټېر خلک به ورباندې ویاړېدل.

خو یوه میاشت کېده چې د امبر په اړه ورته ډاکټرانو ویلي وو چې دا روغه نه ده. لور یې په ذهني توګه وده نه کوي او ډېر پام ورته پکار و. جېکي د زړه خونه ورانه شوه او که په دغه وخت کې د هغې خاوند ټام ورسره مرسته نه وای کړې نو دا به پخپله هم لیونۍ شوې وای. په دغو ورځو شپو کې د هغې عهده نوره هم لوړه شوه خو جېکي نه پوهېده چې خپله کامیابي ولمانځي او که د لور په حالت ویر وکړي. د نوي کار سره نوي امتیازات، لویه تنخواه، د کمپنۍ ګاډې، په کال کې څلور وارې نورو ملکونو ته سفر...دا هر څه جېکي له ډېرې مودې غوښتل. ولې اوس خبره بله وه. د شپې به واړه ویده شول نو جېکي او ټام به تر ساعتونو خبرې کولې. اخر دې نتیجې ته ورسېدل چې جېکي په کور کېنې، هغې د خپلو ماشومانو لپاره د قربانۍ

ورکولو فیصله وکړه. د دفتر مشران چې خبر شول نو د هغې سره یې ډېرې غونډې وکړې. خو جېکي هره غونډه کې هم دغه ویل چې، " زما اولادونو ته زما ضرورت دی."

اوس جېکي د پوستې صندوق سره هم دغسې ولاړه وه او اوښکې یې په مخ روانې وې. ناڅاپه یو تود لاس د هغې نه راتاو شو، دا ټام و. هغه له ډېره وخته د کړکۍ نه کتل او کله چې جېکي صندوق ته سر ولګوو نو دی ورپسې راووتلو. جېکي د ټام په سینه سر ایښې په سلګیو شوه. دواړه تر ډېره وخته هم هلته ولاړ وو، بیا هغې ورو غونډې لاس وغځاو او سپینه لفافه یې د مارغه مښوکې ته وردننه کړه.

جېکي چې دا کیسه ما ته کوله نو ورسره مې وژړل. خو اوس هغه خوشاله وه، د امبر او د جان تصویرونه یې راښکاره کړل. په تېرو دوو میاشتو کې دوی هر هغه څه کړي وو چې ماشومانو غوښتل. د امبرعلاج په یو خاص کلینک کې کېدو. هغه اوس ودریدې شوه او ډاکټرانو جېکي ته ډاډ ورکړې و چې دا به د خپل ورور په شان په سبق کې تکړه نه وي خو معذوره به هم نه وي. جېکي اوس خپل وېښته پرېکړي وو او وزن یې هم ډېر معلومېدو.

په هغه ماښام ما په اورګاډي کې بیا وژړل. زه هم د جېکي په شان هره ورځ خپل درې اولادونه نورو ته سپارم. کله نا کله چې د شپې ناوخته د خپلو کارونو نه اوزګارېږم او کورته ورځم نو دوی ویده وي. زما د جېکي نه قصد پیدا شو. په هغه شپه مې د خپل خاوند سره خبرې وکړې چې زه هم د یو مور دنده سر ته رسول غواړم. هغه راته وویل، " ستا خوښه ده، هر څه چې کوې." ما پلټنې وکړې، د تنخواه او د لګښت حسابونه مې وکړل، د خاوند په تنخواه هم زمونږه ښه ګوزاره کېده. په بېنک کې مې پېسې جمع

کړې وې او په دغو حسابونو راته احساس وشو چې زه هره ورځ خپل ځان عبث ستړې کووم، زما د کار ګټه هیڅا ته نه رسېږي. ما د خپلې مشرې سره د کار پریښودو په اړه وروستۍ خبرې وکړې. هغې راته وویل چې بل کال ته ممکن زه د هغې په ځای کښېنم ځکه دا هم مخ په بره روانه وه. دا یې وویل چې یو ځلې بیا ورباندې سوچ وکړم او وخت یې راکړو.

خو زما سوچ خلاص و، په خوب کې به مې د سمندر پر غاړه ځان د خپلو اولادونو او خاوند سره لیدو چې په خندا او خوشالۍ مو وخت تېراوو. اوس د ماښام اوو بجې دي او ما په کمپیوټر کې د خپلې استعفا لیک ولیکلو. د چاپ لپاره مې د پرنټر بټن ووهلو چې په دې کې د ټیلیفون ټلۍ وغږېده. د ټیلیفون په شیشه د جېکي نمبر ښکاره شو. خوشاله شوم چې په ښه وخت یې ټیلیفون کړی و، زه به ورسره خپله خوشالي شریکه کړم. د حال احوال نه وروسته ما ترېنه د ټام پوښتنه وکړه نو دا غلې شوه. بیا یې وویل، " مونږ د یو بل نه جلا شوي یو او څو میاشتو کې به طلاق وشي." زما په لاس کې نیولې غوږوزې و رپېدو، هغې راته وویل، " ټام له څه مودې راهیسې د یوې بلې ښځې سره ګرځي، کور ته هم ناوخته راځي، ماشومانو ته وخت نه ورکوي. په دې حالاتو کې ښه دا ده چې مونږ خپل خپل ژوند تېر کړو، زه اوس د کار په لټه یم. که ستا په دفتر کې جاب راووځي نو ما خبره کړې، زه به خپل " سي- وي" درته ای-مېل کړم.

ما ورسره په مخه ښه وویل او د ټیلیفون غوږوزې مې کېښودو. خپل د استعفا چاپ شوې لیک مې خیرې کړو او مشرې ته مې په اي- مېل کې ولیکل، " ستا خبره مې ومنله، زه خپل کار نه پرېږدم. هیله ده چې بل کال ستا په ځای کښېنم."

# مشکنه

وا ببې! زه نه درځمه...زه ناآوزګاره یمه." نن دې نازنینې ته ډېرعذرونه وکړل چې د هغې مېلمستیا ته نه شي ورتلی خو نازنینې ورته قسم وخوړو چې که رانغله نو مړې ژوندی به ورسره پرېږدي.

الماسې ټیلیفون بند کړو نو نزدې کرسۍ باندې یې ځان وغورځاو. نن لومړی ځل و چې هغې یوې میلمستیا ته تلل نه غوښتل او هغه هم د نازنینې په کور کې. نازنینې د ډېرو اوچتو کورنیو د ښځو سره تګ راتګ کوو او الماسې به داسې موقع له خدایه غوښته...داسې ښځو ته خپلې جامې او کالې، په تېره بیا د ډول سینګار ښکاره کول، د الماسې د ژوند لوی هدف و. خدای چې ورله ښایست او پیسه دواړه فراوانه ورکړی وو نو د دې ځرګندول ورته د یو عبادت نه کم نه وو.

خو نن د نازنینې د کور په میلمستیا کې شبنم مراد هم مېلمنه وه. دا نوم الماسې ډېره موده وروسته اوربېدلې و. دا نوم خو لکه د هغې د واده د جوړې په شان و، چې د یو صندوق په تل کې ایښې وه. پخوا به یې د واده جوړه کال کې یو وارې د نورو جامو سره راویستله او په لمر کې به یې کېښوده چې خرابه نشي. خو اوس د ډېرې مودې نه هغې دا کار پرېښې و. د جامو فېشن څو وارې بدل شو او د الماسې لونړو به د هغې پخوانیو جامو پورې ملنډې وهلې. د دې د واده په جوړه مشکنې لګېدلې وې او شبنم مراد

د هغې لپاره يوه داسې مشکله وه چې د کميس نه لوېدلې وه.  خو نن دا مشکله بيا څنګه راپېدا شوه ؟

نازنين ورته ټوله کيسه کړې وه چې د هغې خاوند، خپل يو پخواني ملګري سره د بل چا په کور کې ليدلي وو او هغه ورته وويل چې شبنم يې مېرمنه وه.  هغې نازنينې سره په پوهنتون کې يو ځای سبق ويلې و.  بيا په بله ورځ نازنين د شبنم سره په ټيليفون کې خبرې وکړې او ميلمستيا يې ورته برابره کړه.  الماس هم شبنم ډېره ښه پېژندله...ځکه خو اوس هغې د خپلو جامو د الماری دواړه دروازې پرانستې وې او چرت يې وهلو چې کومه جوړه به اغوندي.  نن هغې ته خپلې ټولې جامې د کباړ مال ښکارېدې.  د بوډۍ ټال د رنګونو هره جوړه ورته بېرنګه شوه، هر کميس ورپورې خندل، د ستارو او مشکنو جوړ ګلونو ورپورې ملنډې وهلې.  نسواري، فولادي او تورو کميسونو او شالونو د هغې زړه ته نورهم غم ورکوو.  سرو، شنو بوټانو او تورو سپينو بېګونو په وازه خله د هغې پېښې کولې.  ځان نه يې پوښتنې وکړې، " ته د شبنم سره ځان ولې برابروې ؟  لږ ځان ته وګوره...د هغې سليقه درنه هېره شوه ؟

الماس ته د شبنم خصلت، د هغې وقار او د هغې تګ، هر څه ياد وو. شبنم يوه ستورې وه چې د پوهنتون په دور کې يې رڼا ته چا سترګې نشوې نيولې.  په ښکاره، شبنم يوه عامه جينۍ وه...معمولي شکل او ټيټ قد...خو د هغې په شخصيت کې يوه عجيبه ښکلا وه.  نازنينې دا خيال و چې د شبنم غږ ښکلې و او خبرې به يې په احتياط کولې نو ځکه داسې وه. خو الماس داسې نه ګڼله.  شبنم جامې ډېر په سليقه اغوستلې، له هرې جوړې سره به يې هغسې بوټان يا د غوږونو وړې والۍ برابرې کړې.  دا بېله خبره وه چې شبنم ډېرې جامې نه لرلې.  د زياتو جينکو دا رای وه چې شبنم

په سبق کې تکړه وه نو ځکه داسې وه لکه چې وه. خو په سبق کې نازنینه هم ښه وه او په وروستي کال خو نازنینې د سرو زرو مېډل ګټلې و.

د پوهنتون د سبق ختمېدو سره دوی ټولې لکه د مارغانو والوتلې. الماس د نازنینې سره تراوسه تګ راتګ کوو خو نورې جینکۍ یې د ذهن د پردو شا ته پټې شوې. د ځینو نومونه یې هم هېر کړي وو. خو یو نوم چې له هغې نه هېرېدو، هغه د شبنم مراد نوم و. هیڅوک خبر نشول چې دا څه شوه. الماس تر اوسه خپلې ځوانۍ ته خدای په امان نه وو ویلي. د هغې دواړه لوڼې ځوانې وې او غوښتلو ته یې خلک تلل راتلل، زوی یې اوس ډاکټر و. خو الماس د ډول سینګار او د جامو کالو په زور خپل ځان په ځوانانو کې حسابوو.

نن د نازنینې د میلمستیا لپاره یې هم د خپل عمر نه پوره لس کاله منفي کړل. د هغې په تصور کې شبنم وه او دا یې باور و چې هغه به نه وي زړه شوې. که د هغې خاوند د نازنینې د خاوند ملګرې و نو مطلب یې دا و چې شبنم به هم لکه د نازنینې په یو اوچت ټبر کې ژوند کوو. د اوچتې کورنۍ ښځې د الماس په شان وې. شبنم خو لا پخوا هم ډېره سلیقه لرله، ډېر ښکلې شخصیت یې و او الماس نه غوښتل چې نن په میلمستیا کې هغه یو وارې بیا د شبنم نه ماتې وخوري. د پوهنتون په وخت کې داسې ډېرې موقعې راغلې وې چې الماس په ځان ښه خواري وکړه. ښکلې فېشني جامې به یې په تن وې او چې د خپل قیمتي موټر نه به راکوزه شوه نو خلکو به ورته څو شیبې وکتل او بیا به یې سترګې واړولې. هیچا به ورته هغسې نه کتل لکه چې شبنم ته کتل کېده. د دوی د شعبې هلکانو خو د شبنم سره د خبرو کولو بانې لټولې.

بیا په دې ماښام چې الماس د نازنینې د لوی کور په دروازه له موټر کوزه شوه نو حالت يې د هغه پوځي جنرل و، ځوک چې د ټولې پرمختللې وسلې سره د جنګ مېدان ته روان وي خو بیا هم ډاډه نه وي چې جنګ به وګټي او که نا؟ هغه په قصد ناوخته تللې وه، دا د هغې پخوانی عادت و. په محفل کې ټولو به دې ته کتل او کله چې دا به د ښځو د سترګو مرکز شوه نو خپله ټوله خواري به ورته په ځای ښکاره شوه.

خو نن ماښام هغې یو وارې بیا د جنګ نه وړاندې هر څه بایللي وو. یو څو ښځو ورته ستړې مه شې ووېل خو د لوی تالار یوه صوفه د ټولو د سترګو مرکز و. هلته شبنم مراد د خپلو تکو سپینو وېښتو، د مخ لاس د ګونځو سره په خړو جامو کې ناسته وه. په سر يې سپينه لوپټه وه او مخ يې پکې لکه د مشکنې ځلېدو. هغې په ورو غږ خبرې کولې او ټولو ورته غوږ نیولې و. الماسه د تالار دروازې سره نږدې په یوې کرسۍ کېناسته. د خپلې بټوې نه يې کاغذي رومال راوویستو او بیا د تندي د خولې وچولو سره سره يې د شونډو سرخي هم پاکه کړه.

# د نواب زوی

یوسف خپلې مېرمنې ته د موټر دروازه خلاصه کړه او په لاس کې نیولې د سودا خلته یې د شا په سیټ کېښوده. موټر یې ښه ځای کې ودرولې و ځکه د ښار له دې لوی بازاره موټر ویستل ډېر ګران کار و. موټر چې لوی سړک ته یې راوویستلو نو د خپل تندي خوله یې په رومال پاکه کړه او ښځې ته یې وویل، " ځنګه ګراني بټوه دې خوښه شوه؟" ښځې یې سر وخوځو او وې ویل، " هو ډېره زیاته...ښه ده چې زما د بوټانو سره "مېچ" کوي." د یوسف په مخ اطمینان څرګند شو.

د ده ناسته پاسته د انګلستان د اوچتو خلکو سره وه. ایله تېره اوونۍ په یو کانفرنس کې یې د پارلیمان یوغړي سره د درېمې نړۍ په ستونزو خبرې کولې...هغه نه یوازې پخپله "ارل" (نواب) و، بلکه پلار یې د مشرانو د جرګې غړې پاتې شوې و. د کانفرنس په ختمېدو، دواړو یو بل ته خپلې پتې او ټیلفون نمبرې ورکړې. ارل د یوسف له خبرو دومره خوند اخستې و چې هغه ته د میرمنې سره بلنه ورکړه چې راتلونکې اوونۍ د ماځیګر چای ورسره وڅښي. یوسف ډېرخوشاله و، هغه به تل داسې موقع له خدایه غوښتله. د خپل وطن د خلکو سره چې به کېناستو نو د دغسې لویو او اوچتو څښتو سره پېژندګلوی د ده ویاړ و. ده له ډېرې مودې په انګلستان کې ژوند کوو، په

دې پوهېدو چې د دې ټولنې د اشرافو اخلاق او کړه وړه ورته د پرمختګ نوې لارې پرانیزي.

د ده خپل نوم یوسف شاه و خو انګرېزي ته یې اړولی او انګرېزانو به ورته "جوزف شا" ویل. د ښځې نوم یې نسرین و، خو ده به د نېنسي په نوم خلکو ته وروپېژندله. نېنسي په خوا دغه بدلون ته خوشاله نه وه، هغه ډېره ازاد خیاله وه خو دومره هم نا. یوسف ورسره ډېرکار وکړو. تراوږدې مودې هغې ته یې لکه د ماشومانو د ناستې ولاړې چل ښودلو. دا چې د ډوډۍ په وخت پنجه په کیڼ لاس کې او چړه په ښي لاس کې نیول کېږي...د پسه د غوښې سره د پودینې ساس، د چایو په پیاله کې لومړی شوده او بیا چای ور اړوي، د ډوډۍ په وخت ځنګل پرمېز نه ږدي او داسې نور. نېنسي اوس دا هر څه زده کړي وو. یوسف د خپل کار په ځای کې سهارلس بجې کافي او د ماځیګر څلور بجې چای څښل چې د انګرېزانو دودیزه عادت و. خوځینو کسانو به ورپورې ملندې وهلې چې ده له انګرېزانو زیات ځان انګرېز کړی و.

نن یوسف او نېنسي د ارل کورته روان وو. کور له ښاره بهر و او هغه په نقشه کې ځان ته نښې وهلې وې. په لاره کې یې یو ګراج ولیدو نوموټر یې پکې ښه ووینځلو. ګاډې اوس بېخي نوې ښکارېدو، د یوسف د بوټانو په شان. پیټرول اچولو نه چې اوزګار شو نو بیا یې سفر پېل کړو. د نواب کور ته تګ ورته د خپل ژوند یوه مهمه پېښه ښکارېده. د هغه د مېرمنې لپاره یې د ډېرو قیمتي چاکلېټو یو ډبی اخستې و. د څلورو بجو نه لږ وړاندې دوی د ارل کور ته ورسېدل، د اوسپنې لویه دروازه خلاصه وه.

د سپرلي په دې ماځیګر هوا ښه ګرمه وه. د یوسف په خپل کوټ کې ګرمي وشوه او زړه یې کېدو چې نکټایی وباسي، خو په هغې یې پوره پنځوس

پونډه ورکړي وو. جرابې يې هم ډېرې قيمتي وې. هغه موټر ورو ورو د لوی دروازې نه وردننه کړو. يو کوږ ووږ پوخ سړک، ليرې دنګې ودانۍ ته ورغلې و. د يوسف زړه د خوشالۍ نه په ټوپونو شو، ځان سره يې وويل، " د کار په ځای کې به څه وايم؟ چې زه د ۱۷ پېرۍ جوړ کور کې مېلمه وم...هو...هغه د نواب فلاني زوی...چې د پارليمان غړې دی...وړمه ورځ مو ورسره چای څښلې..." يوسف په دغه سوچ او خبرو موټر د ودانۍ مخې ته ودرو.

يو دربان په منډه راغې او دوی ته يې ووېل چې، " ارل به د ودانۍ شا ته په چمن کې تاسو سره ګوري." يوسف نورهم خوشاله شو. ښځې يې نوې بټوه په لاس کې نيولې موټر نه را بهر شوه. يوسف د چاکلېټو ډبی را اخستې و. دوی ورو ورو د ودانۍ شا ته روان شول، هلته په باغ کې رنګا رنګ ګلونه غوړېدلي وو. په يو مېز د چايو لوښي او چاپېره څلور کرسۍ ايښې وې. خو هلته بل هيڅوک نه ليدل کېده. دوی اخوا دېخوا کتل چې ناڅاپه د ونو شا ته نه ارل راښکاره شو او په چغه يې دوی ته وويل، " زه ملامت يم چې يوه دقيقه راباندې ناوخته شو."

هغه خاکي پتلون او شين د سان کميس اغوستې و، په پښو کې يې چپلکې...لستوڼي يې تر مټو پورته کړي وو او مخ يې تک سور لکه د انار. په لاس کې يې بېلچه، ددوی په لوري را روان و. دی رانزدې شو او دواړو ته يې هر کلی وويل. بيا يې بخنه وغوښته چې لاسونه يې په خاورو ککړ وو. خو جوزف او نېنسي هک پک ولاړ وو. د ونو شا ته د نواب مېرمنه هم راښکاره شوه. هغې د کاټن ګلدار اوږد کميس اغوستې و، د خپل خاوند په شان په چپلکو کې ، په لاس کې يې يوه ټوکرۍ نيولې وه چې له کاهو او نورو سابو ډکه وه.

هغه دوی ته موسکۍ شوه، خپل ځان یې ورته وپېژندلو. د نواب زوی وویل، "زما مېرمنه د خپل لاس کرل شوي سابه ډېر خوښوي." بیا یې دوی ته د کیناستو وویل او معذرت یې وغوښتو چې دوی لاسونه وینځي او بیرته راځي. جوزف نېنسي ته او نېنسي خپلې نوې بټوې ته کتل. دا یې نن سهار په ۷۰ پونډه اخستې وه چې د هغې د ۱۵۰ پونډو د بوټانو سره یې رنګ برابر و. جوزف خپله نېکټایی په لاس کې ونیوله، بیا یې بوټانو ته وکتل او په کرسۍ یې داسې ځان وغورځوو لکه چې په پښو له کوره راغلې و.

# بېکاره ښځه

د ملا بانګ غږ دومره لوړ و چې د شاهينې ماشوم زوی له خوبه راويښ او په چيغو چيغو يې ژړا پيل کړه. هغې ژر د ماشوم په خله لاس کېښودو او ځان ته يې جوخت کړو. نور کله به دا د ملا بانګ سره پخپله راپاسېده خو نن يې بدن درد کوو. يوه شېبه همدغسې ملاسته وه، زوی يې بيا ويده شوې او د ملا بانګ هم خلاص و. يو وارې بيا چپتيا خپره شوه نو هغې بېرسته په ځان راښکله، زړه يې کېدو چې يو څو شېبې نور هم خوب وکړي. په دې کې ناڅاپه د خواښې غږ يې واورېدو، " يا جينۍ! راپاڅه...لمونځ به درنه قضا شي."

شاهينه خبره وه چې خواښې يې د هغې د لمونځ نه زيات د خپل اودس لپاره تودې اوبه پکارې وې، اوس هوا سړه شوې وه. دا له کټه پاڅېده او په خوبولو سترګو يې د تېلو نغرې بل کړو. بيا د منګي سړې اوبه د غوړو په يو تش ټيمګي کې واړولې او دا يې په نغري کېښوده. ځان يې په څادر کې کلک تاو کړو او بهرغولي ته ووتله. د کوهي نه يې د اوبو دوه درې ډکې بوکې په تشو لوښو کې واړولې. دا اوبه دومره سړې نه وې، هغې پرې اودس وکړو او لمانځه ته ودرېده.

ترڅو چې د هغې خواښې لمونځ کوواو خاوند يې د کار لپاره ځان تيارو...شاهينې بيا چای او پراټې پخ کړې وې. دواړه زامن يې د ښوونځي

لپاره پاڅول او دا لا په هغوی اخته وه چې خاوند ورباندې غږ وکړو، " یا ښځې! جرابې مې چرته دي؟" د شاهینې زړه خپور شو...ناڅاپه وریاد شول چې د شپې ورته خاوند ویلي وو چې د هغه پښې په څپلیو کې یخې شي نو سهار به ورته جرابې پکارې وي. شاهینې د جامو صندوق ته منډه کړه، جرابې په هغه صندوق کې وې چې د پاسه پرې د ماشومانو یو بل بکس ایښې و. هغه بکس ډېر دروند و او شاهینې نشو اوچتولې. اوس هغه سخت وارخطا وه، د خاوند له قهره وېرېده...صندوق یې راپورته کړو خو خاوند یې ایسار نشو. په ډېر تاو یې وویل، " اوس به راته په دې لنډ تنګ وخت کې ته صندوقونه ګورې...ښکا دې ولې نه راو نه ویستل...ورک یې کړه... زه ځم...په ما ناوخته دی." هغه څپلۍ په پښو کړې او په غولي کې ولاړ بایسکل ته لاړو.

شاهینې نه د خپل وجود درد هېر و، ژر ژر یې په صندوق کې لاسونه وهل او اخر یوه جوړه جرابې یې راوویستلې. خاوند یې تر هغې سېکل کوڅې ته ویستې و. هغې د جرابو جوړه مشر زوی ته ورکړه چې پلار پسې کوڅې ته وروځغلوي. زوی یې کوڅې ته ورمنډې کړې او شاهینې د خواښې مخ نه د چایو د لوښو پتنوس اوچت کړو. هغې خپله امسا ونیوله او له کټه راپاڅېده. شاهینې ژر ژر هلکانو ته چای کېښودې، ماشوم زوی یې اوس راویښ او په چغو و. هغې ورته یوه کاسه کې پۍ واړول، دی یې په کټ کېنولو او کاسه یې ورته خلې ته ونیوله. د دې سترګې هغه وخت هم د کوڅې دروازې ته وې. لږه شېبه وروسته یې زوی بېرته راغلو، جرابې یې اوس هم په لاس کې وې. د شاهینې د وجود درد بیا راتازه شو.

زوی یې خبر و چې نیا به ورته اوس وېنا کوي، ژر یې خپله بسته راواخیسته او له کوره بهر ووتلو. ورور هم ورپسې منډې کړې او د شاهین خواښې په

وېناګانو سر شوه." زما د زوی پښې به یخې وي...خوار دومره لیرې ځي...خدای دې داسې ښځې چا ته نه ورکوي چې د خاوند د ارام خیال نه ساتي." شاهینې غوړونه کانه کړل او چې زوی یې د پیو کاسه تشه کړه نو هغه ته یې یو ټوټه پراټه په لاس کې ورکړه. بیا ترغرمې په کارونو اخته وه. لوښي وینځل، اوړه اخښل، کټونه راټولول، چرګانو ته دانه. د چم ګاونډ هغه ښځې چې دوی کره به یې سر ښکاره کړو، په دې خبرېدې چې شاهینې خپل خاوند ته سهار جرابې نه وې ویستلې او هغه خوار په یخ سهار کې بې له جرابو کار ته تللې و. یو چا به د شاهینې سره زړه سوي وکړه خو نورو به د هغې د خواښې سره په ګډه د داسې ښځو بد ویل چې د کور کارونه ترې پاتې وي. ځینو به په خپلو خپلو انړیندو خبرې راواخستې.

شاهینې له سهاره هیڅ نه و خوړلي او د تبژن وجود سره په کارونو لګیا وه. د غرمې دډوډۍ تابیا یې کوله. له ګاونډۍ یې د تیلو ډبلی (اورلګیت) چې اخیستو نو هغې د دې په تندي لاس کېښودو او بیا یې ورته وویل، " ستا خو سخته تبه ده...څه دارو دې خوړلي دي؟ پخوا له دې چې شاهینې ورته څه ویلې وای، هغې وویل، " ودرېږه چې زه درته د تبې ګولۍ راوړم، وجود به دې ټکور شي." شاهینه هم هلته د ګاونډۍ د دېوال سره ولاړه وه چې د خواښې یې پام شو." هلته به نور څومره ودرېږې؟ تناره ته دې نوکران ولاړ دي؟ شاهینې د زړه په زور ورته وویل، " سارا ببو د تبې ګولۍ راته راوړي." د هغې د خواښې سره ناستو ښځو خبرې بندې کړې او یوه شېبه ټولې غلې ناستې وې. شاهینې له ګاونډۍ ګولۍ واخیستې نو هغې پرې تاکید وکړو چې اول څه وخوره، بیا ګولۍ واچوه. شاهینې د شکور نه د سهار پاتې سړه ډوډۍ سپوره وخوړه او بیا دواړه ګولۍ یې بې له اوبو تېرې کړې.

یوه ښځه د هغې سره د زړه سوي ښودلو لپاره راپاڅېده او په تناره کې یې ورته اور بل کړو. خو په ټول کلي کې اوس تنورونه ګرم وو اوهرې ښځې د ډوډۍ غم کوو. د غرمې ډوډۍ چې وخوړل شوه نو د شاهینې هیله پېدا شوه چې یوې شېبې له پرکټ سملي او د منې په تود لمر کې ځان ته ارام ورکړي، خو داسې ونشول. ورځې لنډې شوې او د ماښام لپاره ډوډۍ او کټوۍ ددې هره ورځنۍ دنده وه. د خواښې له زړه نه یې د زوی د جرابو خبره لا نه وه وتلې، ټوله ورځ ورته غورېده. شاهینې ښه دا وګڼله چې ماشوم پاک کړي او جامې ووینځي. بیا دواړه زامن یې د ښوونځي نه راغلل نو هغوی ته یې ډوډۍ ورکړه. دوی بهر کوڅې ته د لوبو لپاره ووتل نو خاوند یې راښکاره شو. شاهینې ورته د وړاندې نه د اوبو کوزه د تناره په تودو ایرو کې ایښې وه او چې هغه خپل بایسکل د دېوال سره ودروو نو شاهینې تولیه او صابون ورته را اخستي، د چرچوبۍ نه بهر بنۍ سره ولاړه وه. د شاهینې خواښې د زوی هرکلی وکړو، " زویه ساړه خو به دې ډېر شوي وي...زما درپسې ټوله ورځ فکر خراب و." زوی یې په جواب کې څه ویل ؟ د شاهینې پام نه و. په بل کټ یې ورته د چایو پتنوس کېښودو. د هغې خاوند د غرمې ډوډۍ د کار په ځای کې خوړله.

د ماځیګر د لمانځه سره بیا د تنورونو لوګي راپورته شول. شاهینه یو وارې بیا تنور ته ودرېده او د ماښام د لمانځه نه وروسته ټول ډوډۍ ته کېناستل. شاهینې ژر ژر پاتې کارونه خلاصول چې د شپې خوب لپاره کټ ته ورشي. د هغې د وجود درد اوس لا زیات شوې و. ګاونډۍ ورته دوه ګولۍ نورې هم ورکړې وې چې د شپې خوب په وخت یې وخوري. شاهینې غوښتل چې خاوند ته د خپل تکلیف ووایی خو د خواښې تندي ته یې وکتل نو غلې پاتې شوه. په دې وخت کې دروازه وټکېده او د دې ورور رانوتلو.

د شاهينې د مور کور د کلي په بل سر کې و او ورور به يې کله نا کله د دوی کور ته راتلو. هغه ډوډۍ خوړلې وه او شاهينې چای جوش د خاورې تېلو په انغري کېښودو. بيا يې ورور ته وويل، " له سهاره مې وجود داسې خوږېږي...دوه ګولۍ مې هم وخوړې خو فرق يې نه دې کړې." ورور يې وويل، " هو ساړه دي...هوا بدلېږي...پرون دې وريندارې هم دغه خبره کوله." بيا يې په تونده لهجه وويل، " تاسو ښځې د خپل ځان خيال ولې نه ساتئ؟ پښو ته دې وګوره...جرابې دې نشته؟" د شاهينې خواښې له خدای ورځ ورکړه. د بالښت نه يې سراوچت کړو، "د دې پښو ته څه له ګورې...زما د زوی پښې وګوره...سهارپه يخ باد کې بې له جرابو د کور نه وتلې دی...سل واره مې ورته وويل چې د صندوقونو نه جامې راوباسه، خو د دې ورته کله فکر کېږي؟ زمونږ وختونه وو چې..." او بيا خواښې يې د خپلې ځوانۍ کيسې راواخيستې. تر هغې لګيا وه، تر څو چې شاهينې ورته د چايو پياله په لاس کې نه وه ورکړې. د شاهينې خاوند چای څښلې او د ښځو په مکرونو يې هم خبرې کولې. ورور يې په زوره زوره خندل. دواړو زامنو يې د پلار او د ماما په خبرو خندل. ورور يې وويل، " ياره دا ښځې ټوله ورځ په خوشې خبرو تېروي." خاوند يې وويل، " بې کاره دي ځکه...ځينې به د کور په کارونو کې تکړه وي خو هغه پکې لږې وي...داسې ښځې په ښار کې وي...د کلي څه ښځې وي." ورور يې بيا وويل، " يو خو چې لږ يې په سر درد شي...دارو پسې ګرځي...ټول کلې بيا خبروي..."

شاهينه د نغري سره ناسته وه...په کوټه کې د هريکېن تته رڼا خپره وه او په دې رڼا کې د هغې د سترګو اوښکې چا نشوې ليدې. د هغې وجود سترې و خو خپل کټ ته نشوه ورتلې...هلته يې ورور ناست و. خواښې يې ويده وه او دواړو زامنو يې پخپل کټ د يو بل نه بړستنه راښکله. ماشوم زوی يې د

پلار سره ویده و. شاهینې خپل سر په دواړو زنګونونو کېښودو او سلګۍ یې
په شونډو کې راټینګه کړه.

# ډش انتن

ببو د راتلو سره په ټولو زېرې وکړو، " جيني مو پيدا کړه." ناڅاپه په " ټاتره" کې د ژوند کاروبار پخپل ځای ودرېدو. هر چا خپل کار پرېښودو او لوی کوټې ته يې مخه کړه. شاه بېګم ترور لويه کټوی له انغري راښکته کړه...ګېس يې بند کړو او پخپلې لوېټې، د لاسونو په پاکولو پاکولو له پخلنځي را بهر شوه. د بلال مشرې ورينداري، ماشوم له تي ليرې کړو، هغه يې په اوږه را واړو او داسې په تادې له کوټې ووتله چې لوپټه ترې په غولي کې وغورځېده.

د بلال يوې خور په سر نکريزې لګولې وې. ژر ژر يې د پلاسټکو په يوه خلته کې سر وپېچلو او لوی کوټې ته په منډه شوه. بلې خور يې ټي-وي مخې ته ډېده وهلې وه. په ډش انتن يو ډېر ښه د سندرو پروګرام روان و. نور کله به که زلزله هم راغلې وای نو دا به د خپل ځای نه چا نشوه خوځولې. خو د ببو غږ هغې هم واورېدو او ښېې يېله بهر ته يې ورودانګل. په دې وخت کې به د ټاټرې زيات سړي له کوره بهر وو. مشرنيکه د غرمې له خوبه نه و راويښ شوې. د کور په لويه دروازه ناست څوکيدار شريف کاکا د ټبرله کيسو ځان نه خبراو. ببو اوس په لويه کوټه کې بالښت سره ډډه لګولې، د اوبو ګيلاس يې خلې ته نيولې و.

د ښار په نوې ابادۍ کې دا لوی کور" تاتره" نومېدو. او دلته اوسېدونکو له تېرو شپږو میاشتو راهیسې د کور د خاوند وروستي ناواده زوی بلال لپاره جینۍ لټوله. په خپلوخپلوانو کې یې داسې یوه پیغله هم نه وه چې د دوی خوښه شوې وای. اصل خبره د بلال د خوښې وه. د هغه هندي فلمونو ایکټرسه "مادهوري" ډېره خوښه وه. یواځې دده نا...د مور او خویندو یې هم مادهوري خوښېده. ځکه خو داسې جینۍ پسې ګرځېدل چې یو څه نا څه د مادهوري شباهت یې لرلې وای. اوس چې دومره موده تېره شوه نو بلال پخپلې خوښې کې څه نرمښت راوستو. د "راني مکرجې" په شان جینۍ به هم ښه وي.

د تاترې انړندې به پخپلو نومونو نه پېژندل کېدې. د بلال مشره ورېنداره" ډمپل" وه. دوېمه " کرشمه" او درېمه " کاجول". دا تش نومونه نه وو. د دغو ښځو څېرې هم څه نا څه " ډمپل" کرشمې" او کاجول ته ورته وې. ورو ورو لویه کوټه د ښځو اوماشومانو نه ډکه شوه. د ټولوسترګې ببو ته وې. داسې ښکارېده لکه چې ببو یوې وړې جلسې ته خطاب کوونکې وه.

د ببوله تاریخ څوک خبر نه وو چې له کومه راغلې وه او د چا خپله وه؟ خو په تاتره کې یې د بلال د مور سلاکارې دنده په غاړه وه. اوس هم پخوا له دې چې پوښتنې پېل شوې وای، هغې د بلال موراو د شاه بیګم سره د جینۍ د کور لوښو لرګو په اړه خبرې کولې. بیا د لوښو او د چایوسره د خواړو زکر پېل شو. په هغه وخت د بلال مور اوبو وغوښتې. خو د اورېدونکو صبرتمام شو او د بلال کشرې خور په تلوسه پوښتنه وکړه." ښه نو ببو ژر راته ووایه چې جینۍ د مادهوري په شان ده او که د راني مکرجي په شان؟ د بلال مورخپلې لور ته سترګو کې برنده شوه خو غبر یې ونکړو.

هغه وخت ببو مخامخ په دېوال لګېدلي د مادهوري لوی او رنګین تصویر ته اشاره وکړه او وې وېل، "دغسې ده...ناوې."

په اورېدونکو کې یوه ولوله پیدا شوه. د ټولو خبرې پخپلوکې ګډې وډې شوې. د بلال تر ټولو کشره ورینداره"کاجول" له نورو راوځکېده او پښې یې وغځولې. د هغې په زړه یوه لویه تیره رالوېدلې وه. د هغې د ناوېتوب ورځې تېرې شوې وې. لومړې ماشوم یې د دوو میاشتو و او د تېرو څو ورځو نه هیڅا د هغې د غټو تورو سترګو او د اوږدو اوږدو وېښتو خبره نه وه یاده کړې. ځان ورته د وچې ډوډۍ په شان ښکارېدو چې په مړه ګېډه یې هیڅوک خوړل نه غواړي. پخوا به ترڅو دا نه وه راغلې، د کور ټولو کسانو به په ډوډۍ پیل نه کوو. هر چا به ناوې ته په دسترخوان ښه ښه شیان ورکول. اوس دا هم د نورو په شان د تاترې یوه عامه ښځه وه. پخوا که دا لوښو وینځلو ته ودرېده نوټولو به شورجوړکړو چې، " لاسونه به دې خراب شي." اوس به دا تر ډېره وخته د کور په کارونو بوخته وه خو بیا به یې هم خواښې نه خوشالېده. ددې د واده سینګار مېز د ډول شیانو په ځای، د ماشوم د دارو‌ګانو، وچو شودو په ډبلو، بوتلو اوچوشکو ډک شو. د دې له جامو به د عطرو او نکریزو په ځای اوس د بادیانو، د ماشوم له خلې اړول شوې شودو او د خولې بوی تلو. اوس به دا په نه څه خبره غصه کېده، د شپې به یې خاوند سره نانډرۍ ایرۍ وهلې او سهار به یې سترګې سرې او پړسېدلې وې.

نن چې ببو د مادهوري زېرې وکړو نو دې ته خپل راتلونکې نورهم بدرنګه ښکاره شو. په هغه شپه د کور په بېلا بېلو کوټو کې ټولو په ډش انټن د مادهوري نوې فلم کتلو خو کاجول ناارامه پرخپل کټ اوږېده راوړېده. د تاترې په ډېرو کوټو کې ټي-وي ایښې و، ترټولو لوړ چت دوو لویو او تورو

ډشونو لکه د دېوانو خپلې وزرې خپرې کړې وې. د دې بې شمېرو تارونو د تاترې هرې کوټې ته په ټي-وي رنګا رنګ چينلونه ورکړي وو. زيات تره ښځو به په ګډه هندي فلمونه کتل. ماشومان د لوبو چينل ته لېواله وو، د کور سړو به د شپې پخپلو کوټو کې د ترکي په "بېلې رقص" سترګو له تفريح ورکوو. يو شريف کاکا و چې د لوی دروازې سره په خپله کوټه کې به د ورځې ويده او د شپې به يې د کورڅارنه کوله. د بلال اتيا کلن نيکه ډېرمونځ ګذار و خو ده هم پخپله کوټه کې په يو وړوکي ټي- وي په ډش خبرونه کتل. د بلال ماشوم وراره برکت الله خپل ترورزي ته قسم وخوړو چې مشر بابا يوه شپه د يو فلم ليدو لپاره خپلې عينکې لټولې او هغه فلم کې سپينو سپينو ښځو يواځې نيکرونه اغوستي وو.

د ببو د زېږي نه وروسته څو ورځې تېرې وې، چې د مادهوري له کوره ټيليفون وشو...د هغې تېر ښځې د بلال کور ته راتلل غواړي. دا خبره د ټولو لپاره خوشالۍ وړ وه ځکه داسې ښکارېده چې د مادهوري مور پلار نيم رضا وو. خو بيا هم ببو دا خبر راوړو چې د مادهوري خپلوان "هلک" ليدل غواړي. په دې خبره د بلال خويندو احتجاج وکړوچې، " هلک هم څوک ګوري؟" خو مور يې په خپل "شهزاده زوی" ډېره وياړېده نوغاړه يې کېښوده. په ټاکلي ورځ، تاتره داسې ووينځل شوه چې د صابونو اوبه بهر تر کوڅې راوتلې. شاه بيګم ترور د ټولو کوټو لپاره نوي څادرونه او پوښونو راوويستل. د ماشومانو بد حال و، په هره غسل خانه کې د دوی چغې او ژړاګانې وې. مېندو ورته د صابونو چکۍ او ماشوړې نيولې وې، د چا له غوږونو خيرې راويستل کېدې او د چا له پوزې ګرينګې. د مادهوري له کوره ښځې ماځيګر راتلې خو د تاترې ښځو د غرمې د ډوډۍ نه وروسته ځانونه سينګارول. کاجول د خپل واده له جامو يوه ښايسته جوړه واغوسته خو

اوس وربانډې دومره تنګه وه چې ساه يې پکې نشوه اخستې.  د هغې زړه مات شو ولې هوډ يې کړې و چې خپل ځان به له چا کم کوز نه راولي.

ماځيګر د چايو لپاره ډېر ښه ښه شيان له بازاره راوړل شول.  بلال شاه بيګم ترور ته وويل چې، " ټولو ماشومانو ته به د چايو په وخت بېله کوټه کې کيک او بسکټ ورکوې.  هر يو ماشوم ته بېل بېل امر وشو چې که د ميلمنو د مخې نه يې شی راواخستو نو د ډش کتل به وربانډې بند وي.  کوز ماځيګر، د مادهوري ورېنداره، مور او خوېندې تاترې ته راغلې.  د هغوی په وړاندې ټولو ډېر په احتياط خبرې کولې.  کاجول خپل ماشوم د وخته په کوټه کې ويده کړې و او د مېلمنو سره داسې ناسته وه لکه چې پرون يې واده شوې و.

د بلال مور ټولو انږېندو ته ويلي وو چې د مېلمنو په وړاندې به ښه خوشاله وسي.  له ډېرو تشريفاتي او مصنوعي خبرو نه وروسته چای راغلې.  ځينو ماشومانو هرڅه خوړلي وو خو د مېلمنو دسترخوان شا و خوا يې ځان رسولې و.  برکت الله جاسوس ورته خبر راوړې و چې د مېلمنو کيک او بسکټ بل شان وو.  شاه بيګم ترور په يوه او بله بانه ماشومان له هغه ځايه وويستل. چای وڅښل شوې او لوښي راټول شول نو بلال پسې جواب وشو چې ځان راښکاره کړي.  هغه راغلو او د کوټې په بل سرکې داسې کېناستو لکه چې هم دا اوس يې نکاح ورته تړله.  د مادهوري مور د خپلې بټوې نه عينکې راوويستې او ورينداري يې د بلال نه پوښتنې پېل کړې. خويندو يې د سترګو لاندې کله د هغه رنګ او کله د وېښتو جاج اخيستو. بلال هم په دغو جينکو کې د مادهوري نښې لټولې.

بیا مېلمنې لاړې نو د تاترې ښځو تر شپې ډوډۍ د دوی په اړه خبرې کولې. تر ټولو زیاته کاجول لګیا وه، بیا بیا یې ویل چې "خویندې خو یې دومره ښایسته نه دي." هغې ته دا هیله پیدا شوې وه چې مادهوري به ممکن د ببو د سترګو یوه دوکه وي. په هغه شپه کاجول ډېره خوشاله ویده شوه.

څو ورځې چې تېرې شوې نو ببو ډېره ناهیلې تاترې ته رانوتله. خبره دا وه چې د مادهوري له خوا انکار شوې و. ټول حیران وو خو د بلال مور سخت په قهر وه. هغې ته تراوسه چا انکار نه و کړې. ببو، شاه بیګم او د بلال مور په خپلو کې پټې خبرې کولې. د کور نورې ښځې به ترې نه خبرېدې. کاجول په تلوسه وه چې انکار ولې وشو. د هغې زړه په دې خبره تسله نشو چې جینۍ لا سبق ویل غواړي. هغې د خپلې وریندارې د خورکره ټیلیفون وکړو چې د مادهوري خپلوان یې پېژندل. بیا چې د انکار په سبب خبره شوه نو دومره یې وخندل چې په کټ ورغړېده. مادهوري په دې انکار کړې و چې بلال د " شاه رخ خان" په شان نه و.

# د چرګې بانګ

نېک عمل د ګړۍ د الارم کړنګارۍ په یو غځېدلي لاس بند او مخ یې بیا په بړستن کې پټ کړو. دی سترې و...نور خوب یې غوښتو...خو نن د یاسمین په کور کې مېلمستیا وه او ده ورله سره کړي چرګان وړل. ځو شپې نورې هم په کټ کې تېرې کړې او اخر زړه نازړه را پاڅېدو. پوهېدو چې که هم دا اوس یې کارونه پیل نکړل نو د تېرځل په شان به ورته بیا جنجال جوړ وي. اوس داسې وختي هم نه و، غرمه تېره وه. دی پخلنځي ته لاړو، بېګاني یخ شوي چرګان اوس ویلي وو. ده لویه چړه راواخیسته، له چرګانو یې وازدې او وزرې لیرې کړې، په ماستو کې یې مساله ګډه کړه او چرګان یې پکې اخته کړل. یو څو کسانو ته یې ټیلفونونه وکړل. دوه ساعته وروسته اخته شوي چرګان یې په تود داش کې کېښودل او پخپله غسل خانې ته لاړو.

پینځه بجې شاهد د هغه د کور دروازه وټکوله نو ده چرګان د تاوده داش نه را بهرکړل. د پخلنځي له کړکۍ یې شاهد ته لاس وخوځوو چې هغه دې په موټر کې کېني. نېک عمل ټول پخ شوي چرګان په یو لوی پتنوس کې کېښودل او بیا سپینه پنۍ(زرورق) یې ترې تاو کړه. د داشو نغری یې بند کړو، لاسونه یې ووینځل او د دروازې نه په وتلو کې یې یو ځلې بیا خپل ځان په لوی هنداري کې ولیدو. نیکټایي یې سمه کړه، د چرګانو پتنوس او د دوډیو خلتې یې راواخیستې او دروازه ځان پسې پورې کړه. د چرګانو سره

د نېکعمل یارانه د تېرو شو کالو راهیسې روانه وه. دی د یوې خوارې کورنۍ نه و خو د ډېرې مودې نه په یورپ کې مېشت و. په بې شمېرو ریسټورانونو او دکانونو کې له درنو کارونو وروسته اوس د ښار په مرکز کې د یو لوی ریستوران د مشر باورچي مرستیال و. تنخواه یې ښه وه او په اوونۍ کې یو ځل به د ریستوران ټولو کار کوونکو د خواړو پاتې توکي کورونو ته وړل. نېکعمل واده نه و کړې خو خپله برخه ډوډۍ به یې نزدې ملګرو ته ورکوله.

یوه ورځ عجیبه چل وشو، مشر باورچي په ځای نه و. نېکعمل د شپې دوه بجې چې د ریستوران د شا دروازې نه وتلو نو د لوی فریج(یخچال) سره یې دوه پرېکړي چرګان ولیدل. ده د فریج دروازه خلاصه کړه نو پوهه شو چې د دې چرګانو ځای نه و، ځکه بهر پراته وو. هغه دواړه کور ته یوړل. په بله ورځ هیچا د دې چرګانو پوښتنه و نکړه. نېکعمل دا دوه چرګان پاخه کړل او د شاه پسند په کور کې جوړ بنډار ته یې یوړل. ټولو ښه په خوند وخوړل او بیا نېکعمل یوه بله ورځ د فریج نه دوه چرګان کور ته یوړل. په ریسټوران کې به هره ورځ دومره ډوډۍ پخېده چې حساب یې چا نه کوو. د اوونۍ په پای کې هغه پاتې چرګان او نوره غوښه هم کارکوونکو ته ورکړې شول. نېکعمل اوس په هره دوېمه درېمه دوه درې چرګان کور ته او ملګرو یا د هغوی خپلوانو ته به یې پاخه وړل.

د چرګانو د لارې ډېر خلک د هغه ملګري شول. هغو خلکو چې پخوا به یې ده ته "نېکو" ویل، اوس به یې ورته پوره نوم اخیستو او دې خبرې ورته ډېرخوند ورکاو. نن د شاهد د ورور سالګره وه، په مېلمستیا کې د نېکعمل د لاس چرګان هم ایښودل شوي وو او خلک یې په ستاینې نه مړېدل. په دې کې د کوټې د بل سر نه ورباندې ثریا غږ وکړو، " نېکعمل جانه! بله اوونۍ زما د لور سخرګنۍ راځي. شیریني به ورکوو، وایه څومره چرګان دې

له وسه کېږي؟" نېکعمل ورته په سینه لاس کېښودو، " هرڅومره چې غواړې." ثریا چې د مېلمستیا نه روانېده نو وروغوندې یې د نېکعمل په غوږ کې وویل، " لس چرګان مې د غرمې ډوډۍ ته پکار دي، تر دوو بجو چې ناوخته نشي."  نېکعمل هم ورته سر وخوځوو، " بې غمه اوسه خورې."..ثریا چې په موټر کې کېناسته نو په زوره یې وویل، " د خالي ورځ یاد ساته."

د جمعې په ماښام ریسټوران کې ډېره ګڼه ګوڼه وه.  د شپې په دولسو بجو وروستي ګاکان هم لاړل او تر یوې بجې د ځای پاکولو او لوښو وینځلو کار روان و.  د نېکعمل کار خلاص و، خو هغه د لوی پخلنځي په یو ګوټ کې ناست و، چای یې څښلې.  د کور په یخچال کې ورسره لس دولس چرګان پراته وو خو هغه نور هم وړل غوښته.  مشر منېجر چې ترینه روان شو نو پوښتنه یې وکړه، " ته کور ته نه ځې؟"  نېکعمل خپل مخ ورته نورهم ستړې ځرګند کړو او وې ویل، " زه لږ دمه کووم، بیا ځم." د دوو بجو د پاسه شول نو نېکعمل راپاڅېدو، د شا دروازې نه بهر د ګټو لوی لوی لوی ډبي پراته وو.  هغه یو تش ډبی راواخیستو، د فریج نه یې پینځه چرګان پکې کېښودل او چې له دروازې ووتلو نو لکه چې پښې یې چا ونیولې.  مخامخ ورته منېجر ولاړ و او د هغه شا ته د پولیسو د ګاډی شنې رڼاګانې ځرخېدې. نېکعمل په دې رڼاګانو کې د چرګانو بانګونه هم اورېدل.

# عبادت

د موسا د وادۍ په لوړو او ژورو چې سپېده چوي نو د پرخې څاڅکي د ازغنو بوټو په پلنوغټوپاڼو زمونږ ننداړې ته ولاړ وي. پېړۍ تېرې شوې، څومره انسانان او د دوی جوړې شوې ودانۍ وختونو ترې تم کړل. خو مونږ تر اوسه ژوندي يو او هره ورځ د سپېده چاودې په وخت خپل معبد ته ورځو. څوسوه کاله کېږي چې زه هر سهار د نبيل لاره څارم. دی په خپل اس سپور د دې تيرې سره ودرېږي چې څو شېبې زه ورباندې د ده انتظار کووم. دی راکوز شي او زه په اس سپره شم. مونږ دواړه يېلې پښې يو...هغه د اس واګې ونيسي او بيا ورو ورو د لوی معبد په لاره روان شو. د نبيل اس هم خبر دی چې دلته به منډه نه وهي.

د اوچتو ډېرينو غونډيو ترمنځ په دې تنګه لاره خلک په زړه کې د خدای ثنا وايي. زه پاس اسمان ته ګورم. د دواړو غونډيو تر منځ يوه ليکه ښکاري، چې نه توره ده او نه سپينه. دا شېبې په ما ډېرې درنې وي...زه سخته ويرېږم...په هغه شېبه نبيل زما لاس ونيسي. دی پوهېږي چې زه ولې بره اسمان ته ګورم. په دې شېبو کې د ښار خلک به ويده وو...خو په هغه ورځ دوی ځنګه خبرشول چې زه او نبيل معبد ته ورځو. مودې وشوې چې په داسې يو سهار له دواړوغاړو نه لوی غټې تيرې راوړل شوې وې. د ټول ښار خلک بره په غونډيو ناست وو...زما او د نبيل خپلوان هم. خو هغه زما لاس

کلک نیولې و. مونږ تر ډېره وخته سرګردانه ګرځېدو، بره نه راباندې د تیږو باران شو...اخر موځان لوی معبد ته ورساو. نبیل لاسونه را وړاندې کړل او زه یې د اس نه په غېږه کې واخیستم. دی د معبد په دریو لویو پوړیو وختلو او زه یې پر زمکه ودرولم. مونږ په منډه وردننه شو او د دروازې لویه تیږه موځان پسې بنده کړه.

خو عجیبه وه...د ښار خلک مونږ پسې دننه رانغلل. دوی د معبد ټولې لارې په لویو لویو تیږو بندې کړې...تورتم شو او ډېر وخت موهلته تېر کړو. بیا زه او نبیل له دې تیږو رابهر شو. د هغو لویو تیږو په وړاندې دوی یو بل پوخ دېوال خېژولې و چې دننه معبد ته لاره بنده کړی. بیا تر ډېرې مودې د ښار خلکو یو بل ته زمونږ کیسې کولې...مونږه هم اورېدلې. زمونږ د سهار سفر هم هغسې روان دی. کله نا کله په دې محال نااشنا کسان هم راسره مله وي. خو دوی مونږ نه ویني. د دوی په لاسونو کې کاغذ وي او هرې تیږې ته ځیر وي.

دوی د معبد لوی دروازې ته حیران ګوري ځکه چې دننه ورته هیڅ داسې ودانۍ نه ښکاري چې د دې د لوی دروازې په شان ښایسته وي. هلته یو دېوال جوړ دی. دوی پوښتنه کوي چې د دېوال شا ته به څه وي. په کاغذ کې لیکلي دي چې هیڅ نشته. مودې وشوې چې خلک په دغو کنډوالو کې ګرځي. د معبد لویه دروازه اوس هم په ځای ده، ...هغه درې پوړۍ اوس هم شته. زه او نبیل هر سهار دلته راځو...په دغې دروازې څو شېبې تېروو. بیا د دېوال نه پورې خپل معبد ته ورشو او ټوله ورځ هلته عبادت کوو. ځکه خوتر اوسه ژوندي یو...که څه هم په دې ښار پېرۍ اوښتي دي.

( په اردن کې د پاټرا د کنډوالو نه )

# رخه

د شپې دولس نیمې بجې شوې، زه د خپل کوربه سره په یو داسې سیاسي بحث بوخت وم چې د کور مېرمنه او اولادونه یې څه وخت رانه پاڅېدل، پوه نشوم... آیا ما ورته د " ښه شپه" یا "ښه خوب" تکي ویلي وو او که نا؟ کوربه راته د نورو چایو ست وکړو نو پام مې شو چې په کوټه کې نورهیڅوک نه وو. زمونږ مخې ته د چایو تشې پیالې او د وچې مېوې تشت پروت و. خپلو ګوتو ته مې پام شو، د مالګینې پستې او د چنغوزو په سپینولو مې د دواړو لاسونو دوه ګوتې زیږې او لږ درد یې کوو.

سبا سهار زه بېرته روانېدم نو د چایو تشه پیاله مې په پرچ کې اړولې کېښوده او له خپله ځایه پاسېدم. کوربه راسره په خبرو خبرو د خوب کوټې پورې راغلو او یوبل ته مې شپه په خېر وویل. ما ځان پسې دروازه پورې او جامې مې بدلې کړې. د کوټې سره جوخت غسل خانې کې د خپلو حاجتونو نه اوزګار شوم نو په کټ پرېوتم. زه ډېرسترې وم خو اوس رانه خوب تښتېدلې و. د خپل کوربه په هکله مې سوچ کوو، د ده قسمت ته حیران وم. بیا به مې ځان ته وویل، " بې شکه! دی که داسې ښایسته ژوند و نه کړي ...نو څوک به یې کوي؟

زما کوربه د وطن یو نامتو شخصیت دی. په تېرو حکومتونو کې په لوړه رتبه پاتې شوی او هلته د حالاتو د بدلېدو سره، سم د لاسه یې یورپ ته کډه

وکړه.  دی زمونږ د کلي قام و او پلار یې زما د پلار ډېر نزدې ملګرې و.  په وروستي ځل مې دی د ټیلویژن په پرده لیدلې و.  بیا د حالاتو په تاو پیچ کې لکه د نورو ډېرو خلکو دی هم ورک شو. ما ډېره موده اخوا دېخوا ډغرې خوړلې، د انګریزي ژبې کوروسونه مې ولوستل او اخر یوې بهرنۍ ادارې راته کار راکړو.  تنخواه دومره وه چې د خپلې کورنۍ د ۱۸ کسانو ډوډۍ مې پوره کولې شوه.

نزدې دوه کاله کېږي چې زمونږ اداره کله نا کله زما په شان کارکوونکي د یوې یا دوو اوونیو لپاره جنېوا ته وراستوي.  مقصد یې دا وي چې هم کار زده کړو او هم د غونډېو او مرکو د لارې نړۍ د خپل حال نه خبر کړو.  زه هم په لومړي ځل، بهرنۍ نړۍ ته راووتلم.  هر شی راته نوی او نااشنا لګي، که څه هم د خپلو همکارانو نه مې د یورپ په اړه ډېرڅه اورېدلي و خو په اورېدو او لیدلو کې فرق وي.

دغه غونډې ته له نورو ځایونو هم زما وطنداران راغلي وو.  یو ماښام مې په دوی کې له یو څو کسانو سره خبرې کولې چې یو کس د دغه نامتو شخصیت نوم یاد کړو.  ما د ده په هکله پوښتنې وکړې نو خبرشوم چې دی د جنېوا نه لږ لیرې اوسېږي.  بیا د یو کس نه مې د ده د ټیلیفون نمبر واخیستو نو خبره اسانه شوه.  ما ورته ټیلیفون وکړو نو باوریې نه کېدو چې زه په جنېوا کې وم.  اخر یې راته وویل، " د کانفرنس نه سم وروسته به زمونږ کره راځې."

په وروستۍ ورځ کارونه ډېر وو، زه ناوخته اوزګار شوم.  د ده کورته چې ورسېدم نو سم ماښام و.  له رسېدو سره هغه زما تود هرکلی وکړو او بېګ یې رانه واخیستو چې شپه به هم دلته کوې.  دده کور ډېر په ښایسته ځای کې

و. زه د ناستې په کوټه کې وم چې یوه ځوانه اوښکلې ښځه راغله. نګین زما د کوربه مېرمن وه. ورپسې د ده زامن او لونې وې. ټولو راته ستړي مشي وویل، هلکانو زما لاسونه ښکل کړل. یاد مې نشي چې څلور ماشومان وو که پینځه...یوه وړه ماشومه هم وه چې ژړا مې اورېده خو و مې نه لیده. د کور او د مېرمنې ښکلا مې ولیده نو له خدای مې ګیله پیدا شوه، " چا ته هیڅ نه ورکوې او چا ته هر څه..." د نګین هر انداز ښایسته و، د جامو اغوستل، د خندا، د خبرو... ما به د کوربه نه پټ هغې ته وکتل...بیا مې زړه کې وګرځېدل چې دومره ښایسته ښځه به ډوډۍ کله ښه پخولې شي؟ ټول وخت خو به د خپل ځان په جوړولو لګیا وي. خو د ډوډۍ مېز د هر رنګ وطني خواړو نه ډک و. هغه څه هم پر مېز ایښي وو چې زما د ښځې یې پخول نه و زده.

له کوربه مې کینه پیدا شوه. اخرده په خپل ژوند کې کوم ښه کارکړي دی چې اوس په داسې جنت کې اوسېږي؟" ما څو وارې د نګین د پخلي ستاینه وکړه نو کوربه موسکی شو. کله چې د ډوډۍ نه وروسته د شا دروازې نه باغ ته راووتلو نو ما ترې د هغه د پخوانیو ښځو پوښتنه وکړه. کوربه راته وویل، " یاره څه یې کوې؟ د غرب ښځې هیڅ ښځې نه دي...په ختمه کې یې وفا نشته...ته که هرڅومره نازونه ورله ورکړې...دا به ستا نشي. ځکه خو مې فیصله وکړه چې د خپل وطن ښځه ترهرڅه بهتره ده." بیا ده ډېروخت د نګین د کورنۍ په اړه خبرې کولې. مونږ چې بېرته د ناستې کوټې ته ورغلو نوهلته د وچې مېوې تشت او چای پرمېز ایښي وو. نګین راته چای راکړې او څو شیبې ناسته وه. یوڅو وارې ما د هغې سره هم خبرې وکړې او دومره پوهه شوم چې دا په اوونۍ کې درې وارې د فرانسوي ژبې کورس لپاره

يو ښوونځي ته ورتله." دا يې لا ښېله." ما په زړه کې وويل. پخپلې مېرمنې مې ډېره خواري وکړه چې سبق ووايي خو هيڅ ترې جوړنشول.

اوس مې په کټ اړخونه بدلول. يوه نيمه بجه شوه نو راپاڅېدم. په دې کوټه کې د کتابونو يوه الماري وه. رڼا مې بله کړه او هلته ايښې کتابونو ته ځيرشوم. زيات په انګرېزي ژبه وو. د الماري په سرکې يو کتاب مې راواخيستو نو د دې د پاڅه ايښې بل کتاب "ترپ" راپرېوتو. هغه مې له زمکې اوچت کړو نو يوکاغذ ترې ښکته ولوېدو. دا د فرانسوي ژبې د کورس کتاب و او ورباندې د نګين نوم ليکلې و. هم دغسې يو کتاب زمونږ د دفتر په کتابونو کې پروت و. رالوېدلې کاغذ مې بېرته په کتاب کې او کتاب مې په خپل ځای کېښودو. بيا مې د خوشال خټک ديوان پيدا کړو او بېرته خپل کټ ته راغلم. يوڅو شعرونه مې ولوستل، خو ناڅاپه د کتاب نه رالوېدلی کاغذ راته مخې ته ودرېدو. سوچ مې وکړو، " چې په دغه کاغذ به څه ليکلي وي؟"

زه ناارامه شوم. داسې ښځه چې ځوانه او ښايسته وي...په اوونۍ کې درې وارې په ښوونځي کې له نورو سړو سره زدکړه کوي... بې عېبه نشي کيدی. زما کوربه دومره ځوان نه و...زما د عمر و...بس دغه پنځوسو کالو ته رسېدلې و...ښځه يې د دېرشوهم نه معلومېده. نګين به ارو مرو د يوبل سړي سره لاره پيدا کړې وي. دا د فرانسوي درسونه د څه لپاره دي؟ دې ته هيڅ حاجت نشته چې دومره ډېرماشومان کور پرېږدی او پخپله... ما دا فکرونه کرل رېبل او په لومړي ځل مې د خپل کوربه لپاره قصد د زړه نه ليرې شو." دی بېچاره مسکين داسې فکر کوي چې د خپل وطن ښځه ډېره پتمنه وي." زما زړه اوس د نګين په ضد له نفرته ډک شو. بيا مې خپله

مېرمنه سترګو ته ودرېده، هغه بدرنګه او بې سليقې ښځه اوس رایاده شوه او زړه مې د هغې لپاره له مينې ډک شو. که هر څه ده...يواځې زما ده.

بيا مې ځان نه پوښتنه وکړه، " ته خو خبر نه يې چې په هغه کاغذ څه ليکلي دی، نو ولې داسې قضاوت کوې؟" دا زما د مغزو غږ و، ځکه زړه مې خپلې خبرې کړې وې. ما د خپلو مغزو د کرارولو لپاره د المارۍ نه هغه کتاب راواخيستو. خو بيا مې ضمير راويښ شو، "که دا ليک وي...نو ستا لپاره نه دی...ته يې د لوستلوحق نه لرې...دا غيراخلاقي کار دی." ما کاغذ بېرته په کتاب کې کېښود نوعقل راپورې وخندل." چې داسې د اخلاقو ټېکه دار يې نو بيا ولې دې د نګين لپاره داسې بدګومانه فکرونه کول؟" زه يوه شېبه کتاب په لاس، په کټ ناست وم. اوس د شپې دوه بجې وې. په خپل سوچ او احساس خندا هم راتله،" ښه زه! که نګين بې وفا ده که وفاداره...ستا يې څه؟ ته دلته د يوې شپې لپاره ايسار يې...سهار نهه بجې به روانېږې...بيا کېدې شي تر کلونو خپل کوربه او نګين و نه ګورې...يا په ژوند کې يې چرې و نه ګورې...ځان په دې خوشو خبرو مه ستړې کوه...څو ساعته پاتې دي...خوب وکړه."

ما په دې ځان تسله کړو او المارۍ ته لاړم چې کتاب په خپل ځای کېږدم. خو د المارۍ سره مې پښه ونيول شوه. ما ته خپل ځان معلوم دی...د ټول عمر لپاره به مې دا سوال په زړه پاتې وي چې نګين څنګه ښځه وه. د دې فکر سره مې د کتاب نه هغه کاغذ بېرته راوويستو. ما د خپل دفتري کارونو لپاره فرانسوي ژبه زده کړې وه او د تېرو دوو اوونيو په کانفرنس کې مې ډېر نوي ټکي لوستی وو. په دغه سپين کاغذ په ډېر ښکلي خط ، "موسيو پيېغ" ته ليکل شوي وو. زه ډېره بخښنه غواړم چې پرون نه وم درغلې...ما غوښتل چې په ټيليفون درته وضاحت وکړم خو افسوس و مې نه موندلې. زما ځينې

کورنۍ مجبوریتونه دي..." له دې وروسته یو پیراګراف کې چې څه لیکلي وو، هغه ما و نه لوستل او وروستۍ کرښې ته را ورسېدم، " زه هیله من یم چې ډېر ژر به تاسو سره یو ځای شم. په مینه نګین." زړه مې د خوشالۍ نه په ټوپونو شو...زما اندازه څومره په ځای وه.  کاغذ مې بېرته په کتاب کې...کتاب په خپل ځای...رڼا مې بنده کړه او ښه په ارام ویده شوم.

سهار ۷ بجې کوربه که زما د کوټې ور نه وای ټکولې نو کېدی شوه چې ترناوخته ویده پاتې شوې وای.  څو شېبو کې مې ځان تیار کړو او د خپل بېګ سره ښکته د ناستې کوټې ته ورغلم.  ما داسې سوچ کوو چې د ماشومانود ښوونځي ته ورتګ او په شورماشور کې، د چایو یوه پیاله که مې په نصیب شوه نو ډېره لویه خبره به وي.  خو هلته د بېګا په شان مېز د ناشتې له شیانو ډک و.  کوربه مې په اخبار بوخت و او نګین یو یو ماشوم ته په بستو کې د هغوی د ضرورت شیان اېښودل.  بیا یې ټولو ته په مخه ښه وویل او مونږ سره چایو ته کېناسته.  ما اوس نګین ته دومره نه کتل.  د هغې د ښایست او د سلیقې ټول جادوچې د شپې یې زه ناارامه کړې وم، اوس خلاص و.  ما ته د خپل کوربه ژوند ټول دروغ معلومېدو.

نهه بجې مونږ له کوره ووتلو...کوربه مې موټر راوویستو ځکه هوای ډګر ته یې پخپله بوتلم.  ما د نګین سره خدای په اماني وکړه خو موټرلا د کور نه لوی لارې ته نه و وتلې چې یو ماشوم راپسې منډې کړې.  کوربه مې موټر ودرو او بهر ووتلو.  نګین له دروازې لاس غځولې او یوه لفافه یې د مېړه په لاس کې ورکړه.  دواړوپخپلو کې څو خبرې وکړې او کوربه په منډه بېرته موټر ته راغلو. معذرت یې وغوښتو او بیا یې وویل، " زه په لاره د یو څو شېبو لپاره د نګین ښوونځي کې ایسارېږم.  د هغې ازموینې رانزدې دي او زما وړه ماشومه ناروغه ده.  پرون یې د ښوونځي مشر ته لیک لیکلې و خو هغه ستا

د راتلو په خوشالۍ کې رانه هېرشو. ښه شوه چې هغې ته ياد وو. نګين چې کومه لفافه زما کوربه ته ورکړې وه، د هغې د پاسه په ډېر ښکلي ليک ليکلي و، "موسيو پيېغ"

# درمل

زما سبق يواځې زما د ژوند برخه نه وه، د کلي ټول خلک به خبرېدل چې زما امتحانونه کله دي؟ يو يو کتاب مې په څو روپۍ کېږي او د استادانو نومونه مې څه دي. اصل خبره دا وه چې زمونږ په کلي کې ډاکټر نه و. حکومت ډېره موده پخوا يو کلينک پکې جوړ کړې و خو هلته به يواځې کمپوډر ناست و. څو واري ورته ډاکټران راغلل خو مياشت به يې هم پکې نه تېروله. زمونږ کلي د متمدن ژوند نه ډېر ليرې، په يوې داسې سيمې کې دی چې ډېرو خلکو په نصيب کې اوس هم د غنمو ډوډۍ نه وي.

زما د زېږېدو په وخت چې مور مړه شوه نو پلار مې قسم وخوړو چې ما نه به ډاکټره جوړوي. زما مور ورباندې ډېره ګرانه وه خو د ډاکټر او د علاج نيشتوالي د مرګ کندې ته وروغورځوله. زه مې خپلې نيا لويه کړم او چې د پينځو کالو شوم نو پلار د خپل يو ملګري کور کې پرېښودم چې د هغه د لونړو سره ښوونځي کې سبق ووايم. پينځه کاله وروسته د افضل خان کاکا ټولې لونړې واده شوې او ما سره څوک ملګرې پاتې نشوه نو پلار په ښار کې داسې ښوونځي کې داخله کړم چې هاسټل هم ورسره و. زه به په چوټيانو کې کلي ته ورتلم نو ټولو کورونو ته به مې پېښنه وکړه.

زمونږ کلي دومره لوی نه دی ، ټول ټال پنځوس قدر له کورونه دي چې هغه هم د يو بل خپلوان يو. د ښوونځي د سبق نه وروسته زما د کلاس

ډېرې جينکۍ واده شوې او خدای شته چې زما هم زړه کېدو چې واده مې وشي او په کور کېنم. خو پلار راته ويلي وو چې زه به ډاکټره کېږم نو ژر به مې خپل سبق ته پام وکړو. په کالج کې مې د داخلې لپاره ښې نمبرې اخستې وې او کله چې زما د دولسم نتيجه راووته او کلی ته خبر لاړو نو ټولو اتڼ وکړو. د طب د داخلې لپاره ما ته څو لانجې راپيښې شوې. د نزدې ښار په کالج کې مقابله سخته وه او هلته يې داخله را نکړه. اخر زما د سيمې غربت او د بابا د ملګرو په زور د غرونو يو ښار په کالج کې مې داخله وشوه چې زمونږ له سيمې ډېر ليرې و. زه د پوره کال لپاره کلي نه لاړم، ځکه خو ټول د بسونو اډې ته راغلي و چې په مخه ښه راته ووايی.

سبق پيل شو خو هرڅه ګران وو او په لومړي ځل مې د سړو استادانو نه زدکړه کوله. په صنف کې هم راسره هلکان ډېر وو. په هاسټل کې ما سره لکه د نورو جينکو، د جامو کالو او د هلکانو خبرې نه وې. ما به نورو ته غوږ نيولې و او چې د واده او د راتلونکي ژوند په هکله به خبرې پيل شوې نو زه به ترې رااوچته شوم. داټولې خبرې زما لپاره بې مانا وې. داسې نه وه چې زما زړه نه کېدو...خدای شته چې د شپې ويده کېدو په وخت به ما هم د خپل ژوند د ملګري خوبونه ليدل. خو سهار به مې د کلی نه يو ليک ترلاسه کړو چې پکې د يو او بل د ناروغۍ يا د مړينې خبر ليکلې و. زما په وس نه وه چې د پينځو کالو سبق مې په يو کال کې پوره کړې وای.

د ډاکټرۍ لومړي کال راته سخت و، دوهم لږ اسانه شو، دريم بيا سخت و، څلورم تر ټولو زيات ګران و او په وروستي کال کې خو راته داسې ښکارېده چې ژوندۍ به پاتې نشم. ډوډۍ به رانه هېره وه او جامې بدلول يو ګران کار شو. اوس ژمې و او په سپرلي کې زمونږ وروستې امتحان و. زه به په اوونۍ کې يو ځلې د هاسټل نه کالج ته ورتلم، نور ټول وخت يا په

کتابتون او یا پخپلې کوټې کې په سبق اخته وم.  په دغو ورځو کې زمونږ د کلاس یوه جینې شهلا د کور نه هاسټل ته کډه راوړه او زما څنګ ته په بله کوټه کې ډېره شوه.  د هغې ستونزه دا وه چې په کور کې یې ماشومان وروڼه خوېندې ډېر وو او دې به په ارام سبق نشو ویلې.  نو ځکه هاسټل ته د امتحان تیاري لپاره راغلې وه.  دا عجیبه وه چې ډېرې نورې جینکۍ د تیاري لپاره کورونو ته تللې وې ځکه په کالج کې نوردرسونه نه وو. زما او د شهلا په شان څو نورې هم د مجبورۍ نه پاتې وې.

یو ماښام زه ښکته ډوډۍ ته ورتلم نو د شهلا د کوټې دروازه مې وټکوله. هغې راته دننه نه وویل، " ډوډۍ نه خورم." زه خبره وم چې شهلا د غرمې هم څه نه و خوړلي...په هاسټل کې نن سبا د غرمې ډوډۍ نه پخېده.  ځینو جینکو به نزدې دکانونو نه ځان له څه راوغوښتل، چا به اګۍ پخې کړې...ما به کله بسکټ، کله وچه ډوډۍ د شودو سره او کله میوه خوړل. شهلا به هم دغسې ګوزاره کوله.  خو نن د سهار راهیسې هغې په کوټه کې ځان بند کړې و.  ما بیا د هغې دروازه وټکوله نو په قهر یې راته وویل، " ډوډۍ نه خورم...ته ورشه." زه ښکته لاړم، ډوډۍ مې وخوړه خو فکرمې په شهلا کې بند و.  د پخلنځي یوې خاله ته مې وویل چې د شهلا د برخې ډوډۍ دې راته راکړي چې کوټې ته ورله یوسم.  هغې د شونډو لاندې څه بد رد وویل خو په یوه کاسه کې یې راته د غوښې او الوګانو اینګولې او یوه د تنور ډوډۍ راکړل.

زه بره ورغلم او د شهلا دروازې مخ ته ودرېدم.  " شهلا ما درله ډوډۍ راوړې ده."  ما د هغې غږ واورېدو خو پوهه نشوم چې څه یې وویل.  دروازه یې پرانسته او زه دننه ورغلم. د هغې د کوټې حالت نه ښکارېده چې دا څومره پرېشانه وه.  ما ورته ډوډۍ پرمېزکېښوده او هغې راته مننه وویل.  د سبق او

امتحان په اړه مو خبرې وکړې او زه ترې پاڅېدم. هغې ته مې د ډوډۍ خوړلو ټينګار وکړو، بيا مې د فارسي متل وریاد کړو چې، " چای ناخورده جنگ نه مېشود." هغې ناخواله موسکا کې د پښتو متل راته وويلو، " وږې مړذ ښه جنګ کوي."

په بل سهار د چايو لپاره مې وربانديې بيا غږ وکړو خو شهلا په کوټه کې نه وه. زه ښکته لاړم او چای مې وڅښلې. سوچ مې کوو چې شهلا به په غسل خانه کې وي. د څو ورځو نه واورې ورېدې. زه کوټې ته راغلم او سبق مې شروع کړو. کله کله به مې کتاب کېښودو او د کړکۍ نه بهرسړک ته به مې وکتل. هر څه په واوره کې پټ وو او د سړک په غاړه د کورونو مخې ته ځينو خلکو واوره ټوله کړې او د دېوالونو شا و خوا يې ډېرۍ جوړې کړې وې. ما د غرمې ډوډۍ لپاره د چايو ترماس راواخيستو چې سهار مې را ډک کړې و. ښکته لاړم او يوې خاله راته بيا د تازه شنو چايو نه ډک کړو. اوس مې د چايو پياله ډکوله نو سوچ مې بيا شهلا ته لاړو. د ترماس سره لاړم، د هغې دروازه مې وټکوله خو څه جواب نه و. دروازې له مې معمولي ټېله ورکړه نو دا خلاصه شوه. دننه مې وليدل چې شهلا په کټ پرته وه او سترګې يې سرې وې.

ما داسې وګڼله چې ناروغه وه خو هغه راپاڅېده او ما ورته د تازه چايو پياله ډکه کړه. دا کړکۍ ته ورغله او هلته ودرېده، يوه کرسۍ مې ورته يوړه او دا مې پرې کېنوله. پخپله د مېز په يو ګوټ کېناستم. بيا مې ورته وويل، " ګوره شهلا! زمونږ سبق ګران دی خو دا مطلب نه دی چې ته يې نه شې ويلې. که په اوښکو تويېلو خلک امتحان کې کاميابېدی نو دا چل به ټولو ته ووښايو...ټول به په ښو نمبرو کاميابه شي." هغې له چايو ګوټ واخيستو او وې ويل، " زما حالات ستاسو په شان نه دي...زه د ډېر پرېشر لاندې

یم." ما ورته وخندل چې د هر چا حالات فرق دي. په لنډو مې ورته وویل چې کېدې شي د هغې سبق یوائې د هغې مور پلار ته خوشالي ورکړي. خو زما سبق ته ټول کلي سترګې نیولي دي.

شهلا ژړغوني غږ کې راته وویل، " زما مشر ورور د ډاکټرۍ په وروستي کال کې ځان وژلې و، ځکه هغه د سبق پېټې نور نشو وړلې. زه وېرېږم چې زما به هم هغه حال شي." هغې خبرې کولې او ما د کړکۍ نه بهر کتل. د سړک په غاړه یوې ونې نه " ببرلم" سر را بهر کړو. ما هغه ته سترګې نیولې وې. شهلا زما نظر څارلو او د هغې هم ورته پام شو. " بلونګړی" هغې وویل. "بلونګړی د پیشو وي، دې ته د ونې مږه وایی...ګلهري." ما ورته وویل. دغه وړکي ببرلم د ونې نه ټوپ کړل او د دېوال سره جوخت د واورې ډېرۍ ته یې د ختلو کوشش وکړو. خو ډېرۍ د هغه قد قامت نه غټه وه. ببرلم بېرته د ونې په لور منډه کړه او یوه شېبه دواړه پښې یې په هوا کې نیولې، د غونډاري جاج اخیستو. بیا یې داسې وځغستل لکه چې د غونډاري نه ټوپ وهل غواړي. خو بیا د دې په بېخ کې ایسار شو او بېرته لاړو.

شهلا د چایو پیاله یوې خوا ته ایښې وه، دواړه څنګل یې په کړکۍ ببر لم ته څیر وه. داسې ښکارېده لکه چې مونږ دواړو د فټبال یا د کرکټ لوبه کتله. ببرلم بیا ورمنډه کړه او د شهلا له خلې یوه ناڅاپه چغه راووتله ځکه ببرلم د غونډۍ نه وردانګلي وو. خو اوس د ده پښې په نرمو واورو کې خښې او زور یې لګوو چې ترې ووځي. مونږ دواړو ورته ساه نیولې وه. ببرلم د خپل نري وجود په زور ځان له واورې راوویستو. بیا یې ورټوپ کړل، د اوسپنې د لوی دروازې لاندې ورننوتو او زمونږ له سترګو پناه شو. شهلا او ما ورته لاسونه وپړکول، یو بل ته مو وکتل او لکه د لېونو په خندا شو.

# د خضر لېټون

د ورکو لارویو هیڅوک ملګري نه وي...نادر لېوني شوې و او لېوني ته چا خپله لور خور نه ورکوله. د کلي خلکو به ویل چې په ډېرو کتابونو لوستلو لېوني شوې و. نادر زمونږ د کلي خان یواځینی زوی و...ډېر ښایسته. زما پلار به ویل چې نادرخان چې کله حجرې ته راشي نو د مخ رڼا یې خپره شي. دی به ټوله ورځ پخپلې کوټې کې یوازې ناست کتابونه به یې لوستل. څه موده په ښار کې یې سبق ویلې و او چې مور او پلار ورله په خپلو سیالو کې د ده لپاره جینۍ لټوله نو ژبه یې بنده شوه.

ما ته دا هرڅه زما ملګرې شادو ویلي وو چې د نادر خان د مور خاصه خدمتګاره وه. هغې راته ویل چې نادر ټوله ورځ یا پخپلې کوټې کې وي او یا د کور په لوی باغ کې ونو او بوټو ته ګوري. په کلي کې اوازه ګډه شوه چې ده د شهیدبابا په زیارت کې لوی ونې لاندې انګرېزي کتاب لوستلو او چې پیریان خبر شول نو ژبه یې ورله بنده کړه. نادر خان په وړوکوالي کې داسې نه و. دی له ما لږ مشر و او چې مونږ به د ویالې پر غاړه د خپلو ګوډیانو کورونه جوړول نو ده به هم د نورو هلکانو سره راوګرځستل او هر څه به یې په لغتو دانه وانه کړل. د کلي ماشومانو په ما نومونه ایښي وو. چا راته "ګورګوره" او چا " ډمبره" ویل. ما به چې وژړل نو یواځې نادر له نورو ماشومانو خلاصولم. زه به کور ته راغلم او مور ته به مې ټول حال تېر

کړو. هغه به راته په قهر شوه چې زه ولې بیا بیا کوڅې ته د لوبو لپاره ووځم؟ پلار به مې یو سوړ اسویلی وکړو او مور ته به یې وویل، " په دې ټول کلي کې ستا د لور نه زیاته توره جینۍ نشته."

د مدرسې سبق چې مې خلاص کړو نو زه په کور کېناستم، ملګرې مې پرله پسې واده شوې. شادو د خان په کور کې کار کوو چې زما په شان وه خو رنګ یې دومره تور نه و. په هر واده ښادۍ کې د شادو او زما بدرنګي به یاده شوه. ما به د ځوانانو نه مخ نه پټولو ځکه هیچا راته نه کتل. په کلي کې چې هره ځوانه ودېده نو مور به مې د هغې د پلوۀ یوه پټاسه په پټه راته راوړه. هره ناوې چې ډولۍ کې کېناسته نو زما په سربه یې لاس کېښودو او ټولو به ویل چې، " زه له خېره...اوس به د ګورګورې واده وي."

زما عمر چې د شلو کالو نه واوړېدو نو پلار مې زما د واده غم پرېښودو. خو مور مې لا توره ډال نه و غورځولي. د بره جومات ملا ښځه چې مړه شوه نو د مور په وجود کې نوې توان پیدا شو. نور کله به د مړي له کوره راغله نو بې سده په کټ کې پرېوته...داسې ارمانجن خبرې به یې کولې چې ما به هم ورسره وژړل. خو دا ځلې هغې د ملا د کور اسبابونه راته شمېرل...په غولي کې لګېدلې د بیکیانې د ونې سیورې او د هغه د غوا پېی یې یادول. د شادو له خلې خبره شوم چې جنازه پورته شوه نو ښځې زما په مور راټولې وې او ځینو خو په ټینګه ورته وویل چې تر څلوېښتي دې صبر وکړي او بیا ما دې ملا ته ورکړي.

خو زما په نصیب کې کونډ ملا هم نه و. هغه په دوېمه جمعه د شادو کورته ښځې واستولې او میاشت وروسته دا په ډولۍ کې کېناسته. په دغه ورځ زما

مور دومره ویر وکړو چې اخر پلار مې ورپسې څپلۍ راواخیسته. د کلي ښځو به هم دغه ویل چې، " څوک له واده پاتې شي نو بیا پاتې وي."

پلار مې ښایی له دې غمه مړشو او مورمې د نادرخان کره کار شروع کړو. زه چې د کټوۍ څمڅۍ او جارو لوښو نه اوزګاره شم نو د شهید بابا زیارت ته ورځم...هلته ځای جارو کړم، د زیارت ډیوې پاکې کړم...د شکرانې پیسې راټولې کړم او د منجاور سلطان کاکا په لاس کې کېږدم. دی په سترګو ړوند دی او د خان له کوره ورته هره ورځ چای ډوډۍ ځي. دا کار د نادر له ورکېدو نه وروسته شروع شو. نادر په وروستي ځل خلکو د شهید بابا په زیارت کې لیدلې و...کتاب یې په لاس کې و او اسمان ته یې کتل. ترمانښامه چې د ده درک و نه لګېدو نو ټول کلي ورپسې ووتلو. د ویالې په هغه سر کې چې د سیند سره نښتې ده، په یوې کندې کې د نادر کتاب یې وموندلو خو دی تری تم و. څو ورځو پورې کلي ته پولیس هم راتلو...ښار کې یې هم ولټوو خو اډو د مړي ژوندي یې پته نه لګېده.

د نادر مور به شهید بابا ته راتله نوډېر به یې ژړل. ورو ورو د هغې راتلل کم او اوس خو بېخي بند شو. ما د زیارت خوا وشا په زمکه کې یو څو نیالګې کېنولي و، اوبو ورکولو دنده هم زما ده. زما څو ورځې تبه وه او چې ښه کېدو نه وروسته زیارت ته لاړم نو ټول بوټي مړ ژواندي او چا پرې د ډیوو سوځېدلي تېل غورځولي وو. سخت په قهر شوم...شهید بابا ته مې په زړه کې شک پیدا شو. دا څنګه بابا دی چې د ټول کلی خلک ورته سوالونه کوي او دی زما د بوټو ساتنه نشي کولې. ځکه خو ما چرې هم د بابا نه سوال نه دی کړې. زما په شهید بابا دومره باور نشته خو د دې زیارت چوپتیا مې خوښه ده. دلته د ونو څانګې کله نا کله دومره اوچتې ښکاري چې د دې په څانګو ناستې فرشتې هم لیدی شم.

نن منجاورکاکا په خپله وړه کوټه کې و خو کټ یې د دېوال سره نه و ولاړ. نن دا کټ د څېړۍ د لوی ونې په سیوري کې پروت او څوک مساپر ورباندې ملاست و. زه ورو ورو کټ ته لاړم خو د مساپرمخ مې نشو لیدی. ببرسر، اوږده وېښته، شلېدلي جامې..."خدای خبر څوک دی؟" ما په زړه کې وویل." هسې نا څوک لېونی وي." بیا مې زړه کلک کړو...د کټ بلې خوا ته لاړم چې وې وینم. د ده په مخ لویه ببره ږیره وه او د سترګو په بانړو یې ګرد پروت و. خو ما په دغه حال کې هم نادرخان وپېژندلو. د ده څېره ما نه هېره نه وه او بېګا شپه مې هم خوب کې ولیدو چې زمونږ د کور په دېوال ناست و.

ما د زیارت له منګي د خاورو په کنډول کې اوبه واړولې او ده ته مې غږ وکړو، " نادر خانه!" دی اوچت کېناستو او یوه شېبه یې ما ته رډ رډ کتل. د اوبو کنډول مې ورته ونیولو نو ده راښکلو او په یوه ساه یې اوبه په خله کې واړولې. بیا راته ځیر شو...ما ورته هیڅ غږ و نه کړو. د خاورو کنډول مې بیا له منګي راډک کړو، د خپلې لوپټې پیڅکې مې پکې لوند او ورو ورو د نادر مخ مې ورسره پاک کړو. ده سترګې پټې نیولې وې او ما ته لکه د نانزکې، چې ساه نه لری، ناست و. ما د لوپټې پیڅکې بیا لوند کړو او د ده لاسونه مې پرې پاک کړل. خدایه توبه...دومره اوږده نوکونه ما چرې نه و لیدلي. زړه مې کېدو چې پوره منګې پرې واړوم خو دی دومره عاجز ښکارېدو چې زړه مې وربادنې وسوځېدو. د کټ په بازو کېناستم او لا په دې فکر کې وم چې بله خبره به دی کوي او که زه؟ نابېره نادر زما په غېږ کې سر کېښودو او لګیا شو، " زه خو ورک وم...تا ولې لاره نه ښودله؟" زه حیرانه وم چې نادر څه وایی؟ ما به ده ته کومه لاره ښودله؟ زه خو پخپله د ژوند په لارو یواځې ولاړه وم. ده زما له غېږ سر پورته کړو او په لاسونو کې یې راته

کېښودو. بیا یې وویل، " اوس به مې یواځې نه پرېږدي...زه به مړشم." په لاس مې د ده ترمې اوښکې رابهیدې چې زما د پوښتنې جواب یې راکوو. ما به هر ورځ د شهید بابا په زیارت کې یوه پوښتنه له خدای کوله چې، " زه دې ولې پیدا کړې یم؟" ما د نادر دواړه لاسونه کلک ونیول، د هغه له اوښکو ډکو ملالو سترګو ته مې یوه شېبه وکتل او بیا مې ورته وویل، " ښه ده چې لاره دې پیدا کړه...اوس به زه درسره یم."

# لومه

د تېر یوکال د ناندریو او دعوو نه وروسته حکومت اخر راته د اوسېدو لپاره بېل کور راکړو. ما به په دریو ځایونو کې کار کوو چې خپل دا کور په هرڅه برابر کړم. په وطن کې داسې څوک نزدې خپلوان مې نشته چې زما مرستې ته اړ وي. زما پیسې زما د خرڅ لپاره نه پوره کېدې نو بل چا سره مې څه مرسته کوله. او خدای شته چې خرڅونه مې ډېر دي. زما قیمتي جامې نه خوښېږی خو د خپل کور لپاره تر ټولو اوچت او ګران شیان اخلم. دا مې عادت نه دی...دا مې کمزوري ده او د پوهنتون د وخت نه راسره ده.

په هغو ورځو کې به د خپلوشته منو ملګرو کره لاړم نوسترګې به مې وازې نیولې وې. د بریالي د کور لوی هنداري، د شفقت د کور قیمتي قالینونه، د مجید د کور زرزري فانوس او د شاه عالم د بلورو ګیلاسونه اوس هم راته یاد دي. د دوی ډېر ښه کورونه وو او یواځې زه پکې خوار وم. ځکه خو اوس خپل ټول ارمانونه پوره کووم. وختونه بدل شوي دي، خدای راته موقع راکړه او له وطن راووتلم. څه موده خو لکه د نورو مهاجرو، یوه کوټه کې د شریکي په کور کې اوسېدم... خو اوس د ډېرې مودې د دعوو او چنو وروسته حکومت راته خپل کور راکړې دی. زما دغه وړوکي کورته هر څوک چې راځي نو په چت ځوړند هغه زرین فانوس ته یې پام شي چې تر اوسه مې د دې پور نه دی پرېکړې. د کرسیو پیښې مې کړې دي، ټیلویژن دومره

لوی دی چې شا ته کړکۍ پکې پټه ده. پردې مې د مخمل اخستي دي او د ډوډۍ د مېز په تخته خو میلمانه خپل مخ کتلې شي.

زه د کار سره سره دوه ورځې د ژبې کورس هم وایم او په کالج کې دوه میاشتې کېږي، د خپل وطن د یوې پېغلې سره مې وپېژندل. دا ډېره ښکلې نه ده خو جامې یې فېشني وي او هرچا سره په خندا خبرې کوي. یو دوه ځلې مو د کالج په کېفې کې یوځای چای څښلې او په خبرو کې مې معلومه کړه چې دا خو د پخواني جنرال ...لور وه او ځان له یواځې اوسېده. له هغې راهیسې زما خوبونه په دې جینۍ آباد شول. څو ځلې مې ورته بلنه ورکړه چې زما کور ته راشي او ډوډۍ راسره وخوري. خو هغې به یوه یا بله بانه وکړه. یو دوه ځلې مونږ، بهر چکر ته تللي وو او یو ځلې مو په ریسټوران کې ډوډۍ هم خوړلې ده. کله کله مې چرتونه وهل چې که زما تربوران او یا هغه ملګري خبر شي چې د جنرال...لور راسره ګرځي نو څومره به راته وپسخېږي. او که واده مې ورسره وکړو نو...له دې "نو" نه وروسته یوه نااشنا خوشالي به مې احساس کړه.

هغه ډېره نېکمرغه ورځ وه چې جینۍ زما بلنه وومنله. زه د پخلي په چل دومره نه پوهېږم...ځکه خو مې د یو ملګري له ریسټوران ورته ښه اوچته ډوډۍ راوغوښتله. له ډوډۍ وروسته ما خپلې قیمتي پیالې را وویستلې چې خاص د نن ورځې لپاره مې اخستې وې. قهوه مې جوړه کړه...مونږ په قیمتي صوفه کېناستو...لوی ټیلویژن لګېدلې و...د فانوس ټولې رڼاګانې مې بلې کړې وې او دا هرڅه راته لکه د فلمونو ډېر رومانټیک ښکارېده. جینۍ د خپل ټبر خبرې کولې او یو وخت مې ترې پوښتنه وکړه، " د واده په اړه څه نظر لرې؟" هغې یوه شېبه راته وکتل او وې ویل، " ښه نظر لرم...زه امریکا ته روانه یم چې واده وکړم...خسرګنۍ راته د ټیکټ او د ویزې تابیا کړې ده. که

چرته امریکې ته دې پېښه وکړه نو زمونږ کور ته ضرور راشې...زه به خپله پته درکړم...

# الماس

نن دوېمه ورځ وه چې د شېردل ماما په کور کې د قران ختمونه کېدل. سهار وختي به د کلي ښځې راټولې شوې او سيپارې به يې ولوستلې، بيا به يې د سلطنت مامي لپاره په ګډه دعا وکړه چې ځنکندن يې اسانه شي. د هغې دوه نزدې خدمت ګارې ورته شپه او ورځ ناستې وې. کله نا کله به يې ورته په خله کې د شاتواوبه يا زمزم په قاشوغه واړول خو سلطنت مامي په هوش کې نه وه.

شېردل ماما ته هم بهر په حجره کې خلک جوپې جوپې راتلل او تسلي به يې ورکوله. د حجرې شا ته په دالان کې د مړي د ډوډۍ سامان راوړل شوي و خو سلطنت مامي تر هغې ژوندۍ وه. ماښام به شېردل ماما د هغې کټ سره نزدې کېناستو، لاس به يې ورته ونيولو او ورو ورو به ورسره په خبرو لګيا و.

سلطنت د شېردل ماما درېمه ښځه وه او دومره پرې ګرانه وه چې اوس د هغې په حالت به لکه د ماشومانو په ژړا شو. شېردل د لومړۍ ښځې سره لس کاله تېر کړل نو دا ځرګنده شوه چې هغې اولاد نشو زېږولې. اخر خپل خسرګنۍ ته د ډېرو جرګو مرکو او ښځې ته د قناعت ورکولو نه وروسته يې بل واده وکړو. د واده په درېمه ورځ لومړۍ ښځه يې مړه شوه او خلکو به ويل چې زړه يې وچاودو. خو ځينو باور کوو چې هغې پخپله زهرخوړلي وو.

د دویمې ښځې لور په زېږولو کې داسې ناروغې پیدا شوه چې کال وروسته دا هم مړه شوه. درېمه ښځه یې زر وکړه ځکه د ماشومې لپاره مور او شېردل ماما ته کور ودانې پکار وه. دی اوس څلوېښتو کالو ته نزدې و. سلطنت چې راواده شوه نو د ماما د تېر ټول خلک د هغې ښایست او ځوانۍ ته ګوته په خله وو. د شپاړسو کالو سلطنت د یوې غریبې کورنۍ نه وه او پخپله به یې دا خبره کوله چې، " پلار مې د شېردل نه ښه ډېرې پیسې اخستې وې."

سلطنت مامې د ښایست سره سره د ډېرو ښو خویونو میرمنه او خله به یې هر وخت له خندا ډکه وه. خپله بنزۍ نسرین یې لکه د اولاد ښه ساتله...هغې سره به یې لوبې کولې او د شپې "الله هو" به یې ورته ویله. خوبیا داسې وشول چې د سلطنت مامې خپل اولاد به نه پایېدو. پرله پسې درې ماشومان یې یا په خېټه کې ضایع او یا له زیږېدو وروسته مړه شول. سلطنت مامې میراته پاتې شوه. هغې ته د "مور" ویلو لپاره یواځې نسرین وه او سلطنت خپله ټوله مینه هغې ته ورکړې وه. شېردل ته ځینو ملګرو د څلورم واده مشوره ورکړه خو هغه دا کار په سلطنت ظلم ګڼلو.

شېردل په کلي کې د "شوم ماما" په لقب یادېدو ځکه لګښت به یې ډېر په ګرانه کوو خو د سلطنت خبره بېله وه. د هغې هره غوښتنه به یې سمدلاسه پورا کوله. نسرین هم د پلار په خویی خبره وه او چې څه به یې پکار وو نو سلطنت ته به یې ویل. د اتلسو کالو په عمر کې د نسرین واده جوړ شو. سلطنت ورته د دنیا هر څه واخیستل او د پېسو لپاره یې ورسره څو ځلې ناندرې ووهلې. د پلار له کوره چې د نسرین ډولۍ اوچته شوه نو دا د سلطنت سره ونښته او په ژړا یې ورته "وایی مورې" ویل. مامې هم اوښکې تویولې.

د واده څو ورځې تېرې شوې او نسرين پخپل کور کې خوشاله وه خو د هغې خواښې سلطنت لپاره د مور په ځای د "مېرې" لقب کاروو. بيا ټول خبرشول چې سلطنت مامي ۱۷ کاله وروسته مېندواره شوه. هر چا خپل هڅ وهلو، چا ويل چې مامي ته خدای پاک د خپلو کړو اجر ورکړو...چا ويل نسرين ورباندې کوډې کړې وې او چې له کوره ووتله نو طلسم يې مات شو...په کلی کې چا د سلطنت او چا د نسرين پره کوله خو اصل خبره چا ته نه وه معلومه. شېردل خوشاله و چې اخر خدای ورباندې رحم وکړو. خو درې مياشتې وروسته نه يواځې دا چې د سلطنت ماشوم په خېټه کې ضايع شو بلکه دا پخپله هم داسې انفکشن ونيوله چې د مرګ خلې ته يې ورټېله کړه. ډاکټرانو ورله ډېرې ستنې ووهلې او په درملنه يې زرګونو روپۍ لګښت وشو خو د مامي حالت ورځ تر بله خرابېدو.

د سلطنت مامي د مرګ خبر چې په کلي کې خپور شو نو هيڅوک حيرانه نه وو. نسرين هم راغله او چې د پلار حالت يې وليدو نو ترخلوېښتي پاتې شوه. بيا يوه ورځ يې د " مېرې" زړې جامې او پېزارونه د کور په خدمتګارو او د کلي بې وزلو ښځو ووېشل. د شپې پلار او لور دواړه په کوټه کې ځان له ناست وو. د سلطنت د ګاڼو لرګين بکس يې مخې ته او د سرو زرو زيات کالي خواره واره پراته وو. ځينې د ورېښمو او د بخمل په وړو کڅوړو کې او نور په مخملي ډبو کې بند وو. نسرين دا هرڅه پخوا هم ليدلي وو، ډېر کالي د دې د خپلې مور وو. ځينې بدرنګه او بې ډوله د پخواني وخت کالي وو. هغې د مخملو يو تور ډبلی راواخيستو چې د نورو په وړاندې نوې ښکارېدو. په رپېدونکو لاسونو يې د ډبي سرليرې کړو، په دې کې د الماسو يوه ښايسته ګوته ځلېده.

د نسرين له خلې يوه سلګۍ راووتله او پرانستې ډبلی یې پلار ته ونیولو." بابا دا ګوته دې "مېرې" ته کله جوړه کړې وه؟" شېردل ماما یوه شېبه ګوتې ته وکتل او په ژړا شو. هغې د نسرين سترګو ته پام و نکړو چې پکې سخته کرکه او مایوسي وه. هغې سلطنت ته ځومره منتونه کړي وو چې پلار ته دې ووایی، یوه د الماسو ګوته ورته واخلي. خو داسې ونشول. د نسرين خسرګنۍ ورته د سرو زرو ډېره ګاڼه کړې وه خو الماس پکې نه وو. او دا خپلو سیالو ته ځومره ټیټ سترګې پاتې شوې وه.

بیا نسرين چې په " اوومه" د خپل پلار کور ته راغله نو د سلطنت یوې خدمتګارې ورته خبر ورکړو چې پلار دې، " مېرې" ته د الماسو ګوته اخستې ده." نسرين ځومره ناهیلې وه او د میلمستیا ډوډۍ ورباندې زهر شوه. تر کوره یې په موټر کې هم دغه سوچ کوو چې اخر یې راسره "مېره توب" وکړو. بیا هر وخت چې د سلطنت ګوتو ته به یې کتل نو داسې به ورته ایسېده لکه چې هغې اوس اوس د الماسو ګوته له ګوتې ویستلې او له هغې یې پټه کړې وه. په تېرو دریو میاشتو کې د هغې په زړه کې د سلطنت لپاره ټوله مینه ختمه شوې وه. د هغې هره خبره ورته دروغ معلومېده. په دې خبره یې ټینګ باور و چې پلار ورله د الماسو ګوته اخستې وه خو د مېرې وربادې پېرزو نه وه او ځان ته یې وساتله. ځکه خو د هغې له خلې د " مور" نوم ورک شو او اوس خو هغې پخپلو سترګو ولیدل چې مېرې ترینه د الماسو ګوته پټه کړې وه...هغه الماس چې د دې لپاره اخستل شوې و.

شېردل خپلې اوښکې پاکې کړې او د لور نه یې مخملي ډبلی واخیستو. بیا یې سترګې پټې کړې او ورته یې وویل، " زه ستا د پوښتنې په مطلب پوهېږم. ستا د کالو لپاره چې زرګر ته لاړو نو مور دې په لاره کې وویل چې تا د الماسو یوه ګوته هم غوښتله... خو ما ورسره دا نه منل. زه خبر وم چې ته

له ما خفه شوې وې...خو الماس ډېر ګران وو.  بیا ستا مور به شپه او ورځ هم دغه خبره یادوله چې نسرین ته به الماس اخلې.  په کومه ورځ چې ډاکټرې راته د دې د حمل خبر راکړو نو زه دومره خوشاله وم چې زرګر ته لاړم او دغه ګوته مې ورله  واخیسته." شېردل سترګې پرانستې او لور ته یې وویل، " ستا په شان هغې هم رانه الماس غوښتل.  په ټول ژوند کې مې ورته د هغې دا ارمان پورا نکړو. تا لپاره د الماسو نه اخیستل یو دلیل دا هم و چې د هغې ارمان مې نه و رژولې."

نسرین یو څه ناارامه شوه خو پلار یې خپله خبره جاري وساتله، ..." کله چې دا ګوته مې سلطنت ته کېښوده نو هغې لومړی پوښتنه هم دا وکړه چې دا د نسرین لپاره ده؟  ما ورته وویل چې نا...ستا لپاره." خو هغې چری هم دا الماس په ګوته نکړل.  په وروستي ځل یې دا په ډبي کې بنده کړه او راته یې وویل چې د نسرین اولاد وشو نو هغې ته به ورکووم.  خدای دې اوس وبخښي...ما سره به یې کله نا کله ټوکې کولې چې ته خو شومپړک یې ...زه هم درسره بدنامه یم."  شېردل لور ته وکتل نو د نسرین د سترګو اوښکو ورته د الماسو ځلا تته کړه.

# بن

ما د روغتون په کټ ځان ډېر ارام احساس کړو. چاپېره خاموشي وه او د ډاکټرانو او نرسانو د پښو ښکالو هم نه اورېدل کېده. د اعصابي ناروغانو لپاره دا روغتون له ښاره بهر و. لږه شېبه وړاندې زما خاوند او مشرې لور راته خدای په امان وویل. اوس به دوی په موټر کې وي، تر ماځیگر به کور ته ورسېږي...کور...او د کور د تصور سره ما پکې خپل ماشومان ولیدل. خواښې او لور مې کور سمبالولې شي، لور مې اوس پېغله ده. "چې څه به یې پخ کړي وي؟" ځان نه مې پوښتنه وکړه او د خپل پخلنځي د تصور سره مې وخندل. غوښه! او د غوښې د ټکې سره مې بیا په سر کې شور ماشور جوړ شو. خدای مې دې غاړه نه بندوي...په تېرو شلو کالو کې زمونږ "کورنۍ" پینځه زره پسونه، دوه درې زره غوایان او په لکونو چرگان او مهیان خپلو خېټو ته غورځولي وي.

غوښه هر څوک خوري ( دا زما د مېړه خبره ده) کېدای شي ځینې به د مذهب، ځینې د ځاروو سره خواخوږي لپاره او نور د فېشن له کبله غوښه و نه خوري. خو زما د کور خلکو ورباندي ایمان راوړې دی. مونږ ټول لس کسان په دې کور کې ژوند کوو. زما پینځه اولادونه دي، یو مې مېړه، خواښې او دوه لېورونه. ایندرور مې واده ده خو کله نا کله راکره واړوي نو بیا په قسم هم نه ځي.

نو د دې ټولو لپاره هره ورځ دوه سېره غوښه پخېږي چې زمونږ د محلت قصاب سهار زمونږ دروازې ته راوړي. په دې کې نیمه د پسه(ګډ) او نیمه د غوايي(غټه) غوښه وي. زما خواښې او خاوند غټه غوښه نه خوري(د خدای په فضل دواړه مسلمانان دي) د ښار لوی حکیم ورته ویلي دي چې دا د بندونو درد پیدا کوي. اوس نو د دوی دواړو په سیالۍ زما مشر زوی او کشر لېور هم بانې کوي. دوی د پسه او د چرګ د غوښې شوقیان دي. مشره لور مې اوس د شپاړسو کالو ده او په ځان ډېر پام کوي. غوړ شیان نه خوري، بلکه کله کله خو هیڅ نه خوري چې جامې ورباندې تنګې نشي. خو کله چې غوښه ووینې نو لکه د پیشو ورباندې ټوپ کړي. خواښې مې په دې زاړو غاښونو د چرګ هډوکي داسې چیچي چې زه ورته حیرانه پاتې شم.

زما ټول ژوند د غوښې چارچاپېره څرخي. خاوند مې د واده له لومړۍ ورځې نه زما د لاس پخ شوي کباب دومره ډېر وخوړل چې خېټه یې خرابه شوه. که زه ترینه یو کار اخیستل غواړم نو د غوښې د پخولو نوي نوي چلونه زده کووم. په کور کې جنګ هم هغه وخت کېږي چې غوښه لږه یا خونده وره نه وي. خدای پاک د انسان د خوړلو لپاره نور ډېر شیان پیدا کړي دي خو زما د کور خلک ورته ګوري هم نا. څو څو وارې مې د غوښې سره دال یا سابه پاخه کړل خو هغه به همدغسې په دسترخوان پاتې شول. د غوښې په اینګولي کې مې الوګان ورګډ کړل خو هرڅوک کوشش کوي چې هغه و نه خوري. کله کله په قیمه کې بېنډۍ ورګډې کړم نو دا د هر چا په رکېبۍ کې یوې خوا ته پاتې وې.

ما به پخپله سبزي او دال خوړل ځکه له غوښې مې زړه تور شو. یوه ورځ د غوښې ناغه وي او مونږ په دغه ورځ چرګان یا مهیان خورو. ما هوډ کړې و چې یوه ورځ به په دسترخوان هیڅ غوښه نه وي. د دال او سبزي پخولو کې

مې ډېره خواري وکړه. پنیر او خربړي مې هم پاخه کړل. د شپې ټول په دسترخوان راټول او یوه شېبه هک پک ناست وو. ورو ورو یې ډوډۍ شروع کړه. خواښې مې د ماستو سره ډوډۍ وخوړه. زامنو مې د پنیر ټوټې د سلاد نه راټولولې او لور مې په وچې ډوډۍ اخته وه. خاوند چې مې دا حال ولیدو نو فرمایش یې وکړو چې اګۍ ورته سره کړم. لنډه دا چې په دې ورځ ټول مرور وو. خواښې مې ډوډۍ وخوړه نو اوبه یې وڅښلې، بیا یې اسمان ته لاسونه ونیول چې " خدایه په دې حال هم شکر دی."

له دې وروسته زما او د کور د غړو تر منځ یو سوړ جنګ پېل شو. د دې جنګ لپاره زما ملاتړ پکار و نو خپله کشره لور مې ځانه سره کړه. هغې ته به مې هره ورځ د غوښې په ضد خبرې کولې. دا چې په سابو کې څومره وټامنونه وي...دا به سبق کې تکړه شي...رنګ به یې نور هم سپین شي...اننګي به یې سره وي. هغې ما سره د یو والي لپاره څو ورځې په دسترخوان تش سابه وخوړل. خو بیا ترې صبر ونشو او په غوښې واوړېده. زما دوېمه وسله دا وه چې په کټوۍ کې مې د مالګې او مرچکو سره لوبې پېل کړې...کله به زیات و او کله به کم. خاوند مې په دې پوهه شو نو یوه ورځ سخت جنګ یې راسره وکړو. خواښې هم راته وېناوې کولې چې " کټوۍ دې بې خونده وي...زه به یې پخپله پخوم." ما د غوښې لوښي د دسترخوان نه را اوچت کړل ...بهر په انګڼ کې مې وغورځول او څه چې مې په خله راتلل غوښه خورو ته ویل.

یو څو ورځې د کور فضا ترینګلې وه. ایندرور مې د غوښې پخه کټوۍ له خپله کوره رالېږله. خو هغه زما په طرف وه او ټولو ته یې وویل چې په هفته کې یوه ورځ سرکاري ناغه هم ددې لپاره وي چې خلک ترکاري یا دال وخوري. په دې زمونږ روغه او فیصله وشوه چې په اوونۍ کې یوه ورځ به په

کور کې هم د غوښې ناغه وي او ټول به سابه خوري. خو په لومړۍ جمعه د دې لوظنامې نه سرغړونه وشوه. مونږ ټولو ته د یو واده بلنه راکړې شوې وه. خواښې او مشره لور مې نه تلې نو ایندرور مې د هغوی لپاره د غوښې کټوی راواستوله. په بله جمعه ټول دسترخوان ته داسې ناست وو، ته به وای مړي ته ناست دي. په دغه وخت دروازه وټکېده او د خاوند یو ملګرې د خپل بال بچ سره راغلو. په لاس کې یې پټنوس نیولې و او پکې د غوښې دوه درې ډوله کباب او تیکې پراته وو. راته یې وویل چې ډوډۍ یې د بهر نه راغوښتې وه خو اوس ناڅاپه کلي ته روان دي. دوه ورځې به هم هلته وي او تیاره ډوډۍ مونږ ته پرېږدي. زما سابه او دال بیا هم هغسې په دسترخوان پاتې شول.

وروسته خبره شوم چې د هغوی کلي ته تګ ناڅاپه نه و. زمونږ د کور له جنګ خبر شوی و. ورو ورو راته دا معلومه شوه چې خاوند مې هره جمعه په څه نا څه بانه ډوډۍ کې غوښه راګډه کړي. کله به د دفتر مېلمستیا نه پاتې غوښه زمونږ کور ته راوړل شوه. کله به د دفتر بابو وریت کړي مهیان د خپل کلي نه راوړل. کله به مې د لېورملګرو د ډوډۍ په وخت کباب یا سره شوي چرګان راواستول. یوه جمعه مشره لور مې په پخلنځي کې اخته شوه چې " زه د کوفتو پخولو چل زده کووم...په کالج کې مې سیالي ده." زما خواښې ورسره نور توکي برابرول. خو زه پوهېدمه چې څلور سېره قیمه د زدکړې لپاره نه وه. زه ډېره ناامېده شوم او د غوښې بوی هم راباندې بد لګېدو.

تېره جمعه خاوند مې د شپې چرته مېلمه و. مونږ ماښام ټي- وي ته ناست وو چې کشر زوی مې خېټه ونیوله، څو کانګې یې وکړې او د لادو بادو پرېوتو. زه ډېره وارخطا شوم. لېور مې ژر موټر راوویستو، ما زوی په غېږ کې

کړو او دی مو روغتون ته یوړو. ډېر وخت مو هلته واړوو. ډاکټر راته وویل چې د ګرمۍ له کبله کله کله داسې کېږي، نرم خواړه او اوبه ورله ورکړئ.

مونږ چې د کور خوا ته را روان شو نو د ښار لوی ریسټوران مخې ته مې خپل خاوند ولیدو. د لېور مې پام نه و...نور ګاډي ډېر وو او لاره بنده وه نو ما ښه شېبه د ریسټوران شا و خوا کتل. سوچ مې کوو چې د دفتر نور ډېر خلک به ورسره وي خو دی د یوې ښځې سره ولاړ و. ښه لوړه دنګه ښکلې ښځه وه، فېشن یې هم ډېر کړې و. دواړه د دفتر ګاډي ته ورغلل چې د ریسټوران د شا له خوا نه ډرېور راویستلو.

په ما خو سم اور بل شو او چې کور ته ورسېدو نو ماشوم مې ویده کړو. لږه شېبه وروسته خاوند مې هم راغلو. زه ورته تیاره ناسته وم، د کوټې دروازه مې بنده کړه او هر شی چې مې لاس ته راتلل، په هغه مې ویشتلو. ده رانه ځان د ساتلو هڅه کوله خو اخر زه یې د دواړو لاسونو نه ونیولم او په کټ یې کېنولم. زه له واکه وتلې وم او په لاس مې ورته غاښونه خښ کړل. ده چیغې کړې، لاسونه یې سست شول نو ما د ګرېوان نه ونیولو، بیا مې ورته ویښته وشوکول. اخر چې زما وحشت له حده ووتلو نو ده راته څپېړه را خلاصه کړه. دا زما لپاره بس و، زه پوهه نشوم چې څومره چغې مې ووهلې، څه وخت راپرېوتم، څنګه یې ارامه کړم او څه وخت یې راته ډاکټر راوغوښتو. بس ګولۍ یې راکولې او زه بې سدهه پرته وم.

نن څلورمه ورځ ده چې ما له هیڅا سره خبرې نه دي کړې، بس ژاړم او چې په ژړا ستړې شم نو بیا ویده شم. نن چې دغه روغتون ته یې راوستلم نو خاوند راسره ډېر وخت یواځې ناست او خبرې یې کولې. " د دفتر ښځه د بل ښار نه راغلې وه، هغه په یو هوټل کې ایساره وه او سهار وختي بېرته

تله.  د دفتر نور کسان دننه په ریستوران کې ناست وو."  بیا یې زه ښکل کړم او راته یې وویل، " ته زما د کور رڼا یې...زه په نورو ښځو څه کوم؟

خو زه پوهېږم چې زما خاوند بې وفا نه دی.  زه په ده ډېره ګرانه یم.  زما بن خوغوښه ده...غوښه.

**پای**